# د ختیځې نړۍ ادبیات

Ketabton.com

راټولونکی: رفیع الله ستانګزی

راټولونکی: رفیع الله ستانګزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نيوليک

سرليکونه مخګڼه

سريزه ........................................
خوشحال خان خټک.......................................
ګل پاچاالفت.........................................
صادق هدايت.........................................
عزيز نسين.........................................
علامه اقبال.........................................
رابندراناټه ټاګور.........................................
ماکسيم ګورکي.........................................
پوشکين.........................................
تولستوی.........................................
شولوخوف.........................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

ادبیات په الفاظواوکلموکې دیواولس دافکارو وروستنۍ اوعالي افاده ده . چې د ودې،انکشاف ارګانیک دوام یې مهم خصوصیات دي اوشفاهي اوتحریري عنعني سره بیلوي .

ادبیات دیواولس دټولنیز شعور یوه برخه ده چې دهغه اولس د ادراک ،طبعي لیاقت په الفاظوکې ځرګنده وي . ادبیات په یوه تاریخي مرحله کې دیوې معینې ټولنې له خوا دمعین اقتصادي اوسیاسي نظام په غوښتنه منځ ته راځي .

ادبیات دانسان لفظي سلوک دي نوخامخا دنورواجتماعي مؤسسو تراغیزې لاندې دي .

دیوملت ادبیات دهغه ملت دتاریخي ودې ،انکشاف اوتحول هنداره ده .چې دیوې خواد نوموړي ملت سیاسي تاریخي رڼا اوروښانه کوي اوله بلې خوا سیاسي تاریخ هم په خپل وارسره په ادبیاتو رڼاچوي اودهرملت ادبیات ځانته تاریخ لري .چې دتاریخ نه یې مراد دادی :

چې دتدریجي تکامل دعلمي قانون مندی له مخې باید دهغه ملت ادبیات داسې یوله بله څخه راوتلي وي چې مختلفې دورې ولري .

چې داخلي ارګانیک اوسستیماتیک دوام اوانکشاف پکښې ځرګند وي .اوهره اوسني دوره یې په نسبي توګه ترمخکنۍ دورې بشپړه اودفکر اومضمون په لحاظ نوې وي .

دبشري پوهې دانکشاف په هره مرحله کې موږ دیولړ داسې حقایقو سره مخامخ کیږو چې یودبله سره منظم ارګانیکي اړیکې لري اوهر یوپه خپل وار سره دهغه بل د رامینځ ته کیدو علت شوي دي .

ددې حقایقو دڅورې اوهر اړخیز ې څیړنې په پاي کې دې نتیجې ته رسیږوچې دملتونو په ځانګړو ادبیاتو سربیره یو ډول جهاني ادبیات موجوددي ، اودا ادبیات بیاځانته تاریخ لري چې موضوع یې په جهاني سویه دبشري شعور تدریجي تکامل دي .اوکومې لیکنې یا روایتونه چې ارګانیک تاریخي دوام نه لري یعنې دمختلفو دورو ترمینځ چې داسې سیستماتیک روابط نه وي چې دعلت او معلول د دیالګتیک په اساس وڅیړل شي د استاد بلنسکي په فکر هغه ادبیات نه دي که شفاهي وي که تحریري یوا زې یوه عنعنه ده .

کوم ملت چې په اجتماعي اوکلتوري لحظ له نورو ملتونو لوړ وي . ادبیات یې هم تر نورو ادبیاتو لوړوي اوپه پاي کې نه یوازې دنوموړې له مرګه سره نه مري بلکې دجهاني ټولنې مشترک مال اودنړۍ دادبیاتو دځپانده سین یوه برخه شي .هغه نو بیا د ملت د تنګ چوکاټ نه وځي او د بشریت عمومي چوکاټ ته ور داخلیږي . ددغسې ادبیاتو یوځرګند مثال دلرغونی یونان یوزرکلن په تیره بیا دپنځمې اوځلورمې پیړۍ ادبیات چې دخپل لوړ ماهیت له کبله اوس دټولو ملتونو مشترک مال دي .اودبشري

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکردعالي بيان په توګه يې خپل ارزښت ساتلی دی ويلی شو :چې ادبيات دټولني له خواپه شعوري توګه اوتغير شوي شکل مينځ ته راځي اودټولنې ګډه فکري پانګه ده ،ديوي ټولنې فکري ، عميق اوشعوري قوت دهغې ټولنې دادبياتو معلوميږي . اود ادبياتولوړوالی دنوموړې ټولنې کلتوري پلوشې دي .ادبيات دخپل بلوغ دتصديق لپاره په ټولنه اتکا کوي نود تحول ،ودې اوانکشاف له مخې دنړۍ ادبيات په څلورومختلفودورو ويشل کيږي:

1- لومړی دوره د(5000 مخزيږديز) نه شروع کيږي اوتر (1000 مخزيږديز) پورې رسيږي .اوپه دې دوره کې لرغوني مترقي ادبيات راځي .

اودلو يديځ جهان دوحشت اوجهالت په تپه تياره کې ورک دي دا دوره زياتره عنعنوي شکل لري اوله دوهمې دورې سره ارتباط نه لري .

2- دوهمه دوره : دغه دوره د((1000مخزيږديز)) نه رانيو لې اوبياتر (498) زيږديز پورې رسيږي په دې دوره کې دلرغوني يونان ادبيات راځي چې دهومر د الياد او اوديسې نه راشروع کيږي .

3- دريمه دوره : دادوره د(498م) څخه شروع اوتر(1321م) ميلادي کال پورې رسيږي داهغه کال دی چې د رُنسانس هيمو نستانو دلرغوني يونان اوروم دژبو اوادبياتو هنر اواجتماعي علوم دزدکولو دپاره په يوه غږ سره جدي حرکت پيل کړ په دې دوره کې دمنځنيوپيړيو نسبتاً نيمګړي اونيم ژواک ادبيات راځي .

4- څلورمه دوره : د(1321م) څخه شروع کيږي يعنې دلومړي ځل لپار په ايټالياکې درُنسانس دپيل کيدو راهيسې ترنن پورې رارسيږی چې په دې دوره کې زياتره چينايې ادبيات اوخصوصاً اروپايي ادبيات پرمخ ولاړه چې اوس دډيرو هيوادونو دهرې پيړۍ ادبيات يې مختلفه بڼه لري اوديوې ځانګړی دورې اطلاق پرې کيږي .

نوددې لپاره چې دتاريخ په اوږدوکې دبيلو بيلو ټولنو دعلمی اوفرهنګي ارزښتونو څخه خبرتيا تر لاسه کړو ښه به داوي چې دنړۍ غوره اومترقي ادبياتو ته خاصه پاملرنه راواړوو .

په همدې خاطر د(ختيځې نړۍ ادبيات ) ترسرليک لاندې دلته دختيځې نړۍ ادبيات کوم چې واقعاً نړيوال ادبي شهرت لري ترکتني اوڅيړنې لاندې نيسو .په دغه برخه کې ديوشمير پيژندل شويوشاعرانو اوليکوالوپيژندنه دادب اوهنر په مورد دهغوي پاخه نظريات اوغوره آثار څرګند کړو ترڅوزمونږ دافغاني ټولنې ادب خوښوونکي اوروشنفکران دغوره ادبي اوفرهنګي آثارو،افکارو اوهنري تجروبو څخه باخبرشي .

وسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوشحال خان خټک (1022-1100ه )( 1691)(1691)

دخوشحال خان دژوند،افکارو،آثارو اوملي نهضت په باب لرو او برو پښتنوادیبانو،مورخینو،لیکوالانواوختیځ پوهانوډیرڅه لیکلي دي په تېره بیاپه دې دېر شوکلونوکې دومره څه ویل شوي دي اودومره مقالې اوکتابونه لیکل شوي دي چې دده دکړنلارې دوه برخې یې څه ناڅه روښانه کړې دي.

په افغانستان کې دخوشحال دنماځنې اودرناوي دپاره دوه لوی اودرانه بین المللي سیمنارونه هم تیرشوي اودسیمنارونو په نتیجه کې دوه لوی کتابونه د ((ننګیالي پښتون)) او((توریالي پښتون )) په نومونو په( 1345-او-1346)کې د پښتوټولنې له خوا خپاره شوي دي ، خو دا اوداسې نور داټول په خروارکې دیو خورد مثال لري اودخوشحال داثارو اوژوندانه دپاره اوږده څېړنه پکارده ځکه توره اوغیرت فکراوسیاست ورکړه اوسخاوت لیکوالي اوکتابت داټول د خوشحال خان خټک په وجود کې یوځاي شوي اودا غږ یې له خولې نه راوتلی دی :

که سخاده اوکه توره که خامه ده        په دادرې توکه زماتللې نامه ده

خوشحال خټک خپلې زیږیدنې اودخپل پلار اونیکه ګانودپیژندګلوي په باب داسې وایې :

((دهجرت زردو ویشت سن و        چې زه راغـلـم په جـهـان
زه خوشحال دشهبـازخان یـم        چې تورزن یـم کان پـه کان
شـهبـاز خـان دیحیی خـان و        چې بـل نـه وهسـې ځوان
یـحـیـی خــان داکـوړي و        چې پـه تـوره شو سلطان ))

دخوشحال خان غورنیکه ملک اکوړي ملک درویش محمد(چې په چنجو مشهور و) زوی دی چې دهندي مغلودجلال الدین اکبر(163-1014 لمریز) په وخت کې دختکودټبرلوی مشراودکابل دلویې لارې ساتندوی و او دخوشحال خان دکورنۍ ټاټوبی ((سرای)) هم ده ودان کړی دی چې (اکوړه)یې هم بولي او د پېښور لمرخاته په 35 میلۍ کې اباد شوی ده.

خوشحال خټک په کوچنیوالي کې ددېرو سختوپېښوسره مخامخ شوی دی هغه دشپږو کالو ؤ چې په لنډي سیند کې ولوید او نږدې ؤ چې مړشي خودسیند نه ژوندی راووت. د اته کلنۍ په وخت کې دیوې څپرې نه پرې کانۍ راولوید او دی یې په تندي زخمي کړ تر اوو ورځو پورې یې حال خراب و او بیا وروسته له څو مودې روغ شو. په دیارلس کلنۍ کې دخپل پلارشهبازخان سره دیوسفزیو(باکوخان) په مقابل کې په جګړه کې برخه واخیسته او په جګړه کې یې ډېره مېړانه وکړه.

خوشحال خان ته یې په اتلس کلنۍ واده کړی دی،خودهغه د وینا څخه داسې جوتیږي چې دلمړي واده څخه خوښ نه و او خپله ناخوښي یې په دې ډول څرګنده کړې ده :

چې په عمرشـوم اتلـس        دشـبـاب پـه عـنفـوان
راکـره راغـلـه جیـنـۍ        پلار نیکه یې بد ذاتان

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل قسمت کړه راترغاړه ددې هـــســـې خـــاندان
ځـــه بـــلاده چـــې راتـــلـــه به دادمـــــا پـــه شـــبـستان
خپل بابا کـــړه راتـــرغـــاړه کـــه نـــه هـــيـــڅ نه وګمان

خوشحال خان په شل کلنۍکې په شعر ويلو پيل کړی دی:

په شل کاله کې ديګ زما دشعر په اور بار شو
په دا دور دی پوخ چې شپيته کاله مې تللي

په 1640 او 1641 زيږديزو کلونو کې کمال زيوچې ديوسفزيو يوه پښه ده خټکوته دمالیې ورکولونه انکار وکړ نوشهبازخان په يوسفزيو باندې حمله وکړه او خوشحال خان چې په دغه وخت کې اته ويشت کلن زلمی و، هم ورسره په دې جګړه کې ملګری و. شهبازخان سخت ټپي شو او خوشحال خان په پښه په غشي ولګيد. شهبازخان ددې ټپ څخه پنځه ورځې وروسته په 1050 لمريز 1641 زيږديز کال کې مړ شواو خوشحال خان دڅلويښتو ورځو وروسته جوړ شو.

خوشحال خټک دخپل پلار دمړينې نېټه دا ډول ښودلې ده:

سن دهجر زر پنځوس و چې شهيد شو شهباز خان

دشهباز خان دمرګ څخه وروسته خوشحال خان دشاجهان له خوا د سردارۍ په توګه دپلار په ځای وټاکل شو.خوشحال خان په دې وخت کې اته ويشت کلن و چې مشري ور په غاړه شوه او تر ډېر عمر پورې يې دا کار کړی دی، مغلو دخپل مقصد له پاره خټک او يوسفزي يودبل سره په جنګ جګړو اخته کړي و،ځکه شاجهان په دې خبره پوهېده چې بې له خټکوددوستۍ او ملګرتيا څخه په پښتنو باندې حکومت نه شي کولای نوپه دې اساس هغه دخټکو سره ظاهري وضعه ډېره ښه وه مګرپه باطن کې يې هيڅ کوم لوی منصب خټکوته نه و ورکړی.

دشاجهان په وخت کې دخټکو او يوسفزيو ترمنځ سخته دښمني وه، ځکه د خوشحال خان پلار هم ديوسفزيو له خوا مړ شوی و او خوشحال خان دخپل پلار دانتقام اخيستلوپه غرض ديوسفزيو سره ډېرې جګړې کړې دي او دهغوی ډېر کلي يې سېزلي دي.کله چې په 1657 زيږديز کال کې شاجهان په ناروغۍ اخته شواو ځامن يې دپادشاهۍ په نيولو په خپل منځ کې سره ونښتل او په نتيجه کې اورنګزيب (1659- 1707 زيږديز) بريالی شو،خپل پلار او خپل نور ورونه يې بنديان کړل او (دارالشکوه) يې وواژه په دغو پيښو کې خوشحال خان داورنګزيب سره ملګری او له ده سره يې ډېره مرسته وکړه. کله چې اورنګزيب خپل سياسي قدرت ټينګ کړ،نوځينو مسلوته يې رامخه شوه چې په دې کې يو هم دخوشحال نيول او دپښتنو ځپل و.

سيد ميرخوافي چې په کابل کې د اورنګزيب والي و،دپېښور نايب مرزا عبدالرحيم ته يې ديو څوتنو مشرانو نيولو او بندي کولو امر دپاچاه څخه اخيستی و.کله چې سيد ميرخوافي پيښورته راغی او خوشحال خان يې دمشورې په پلمه راوغوښته او خوشحال خان هم په 1664 کال پيښورته راغی نوپه همدغه وخت کې خوشحال خان ونيول شو او بيا يې ډهلي ته بندي بوت.دهمدغه وخته دخوشحال دکورنۍ 85 کلنه دوستي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

وفاداري چې له مغلو سره یې دځینو مجبوریتونو له کبله ساتلې وه په دښمني سره بدله شوه او خوشحال خان داورنګزیب دښمن شو.
خوشحال خان یو نیم کال په بند کې تیر کړ او څه نوره موده په هند کې نظر بند پاتې شو. ده خپل ډېر شعرونه په بند او نظربندۍ کې ویلي دي.همدغه بندي توب خوشحال خان باندې ډېره سخته اغیزه وکړه او دده په روح کې یې دانتقام سوزنده جذبه راپیداکړه.
خوشحال خان دغه ناوړه پیښه یعنې دخپلې نیونې اود رتنبوردبند په هکله یو اوږد نظم لیکلی او په هغه کې یې دخپلو زامنو(1) او ترونو(2) رویه ډېره سخته غندلې او یو بندي په څیر دپیښورنه تر ډهلي پورې دا ډول بیان کړې ده:

خورشوپه ملکونو دا خبر پـه درست دیـار
درست عالم دلګیرشولاپښتون یارواغیـار
دارنګ نیـوه شي نـواب ښه ګڼي داکار
چپه خوله شوپاتي هیڅ یـې ونه کړوګفتار
تیري شوي په بندګي ځمادوه میاشتې په شمار
ملک واړه ویران شوخلقه شوپه کوهسـار
وغوښتنې روپۍ پـنځوس هزاره صوبـدار
ماوې دربه نه کړم یویو چک اونه دیـنـار
دواړه لوریه وکـړه سـره داقول واقـرار
یـومغل یې پته بل موتـرونه شرمســار
زوي مي نـادان ووپـه خطالاړه بسیــار
مرګ کشتن که نه وي دوي دي نه پرېښوي وقار

---

1- خوشحال خان په خپل نظم او نثر کې څوځوځایه په بېلابېلوکلونوکې دخپل اولاد شمېر ښودلی دی چې ترشپېتو زیات او تردېرشو زیاتې لورګانې درلودې. یوځای وایي :

اته ویشت لرم زویه نه شته یو دبل په رنګ (کلیات 972 مخ)

بل ځای وایي: دیرش مې زویه په شمار دي دنمسیو مې څه شمار دي (کلیات 257مخ)

خوشحال خان په (1090) هجري قمري کال دزامنو شمېر هم دیرش ښیي :

کال یو زر نوي دهجرت دی هم تحول دی دمیزان
واړه دیـــرش زویـه لـــرمـــه اوس حاضرپه دا اوان ( کلیات 654 مخ )

هغه وخت چې خوشحال خان په ډیلي کې بندي شونو دده کورنۍ یې هم دیوعمل په ډول ډیلي ته وغوښتله مګر یوسف زو دخوشحال خان کور اوکهول وساته اوحکومت ونشو کړاي چې ډیلي ته یې بوځي .
خوشحال خان په دي رازښه پوشو چې شخص اقتدارد‌شخصیت دښمن دی او ظالم اومستبد اوفیوډالی حکومتونه خوشحال غوندې شخصیتونه نشي منلی . دغه رازعواملو په ده کښې ډیرلوی انقلابي فکرراپیداکړاوظالم حکومت اصلي څیره ورته روښانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه .خوشحال خان په زندان کې په شپو شپو خپله آینده سنجوله اوپس دډیرفکرنه یې دا فیصله وکړه :

پس له بنده دي داعـزم                    دخـوشحال دخاطر جزم
یـانیـولـي مـخ مكې ته                    یـامــغـلــوســره رزم

دهمدغه عزم اوپیمان په اثر کله چې په( 1668– 1669) کال کې خپل هیواد ته راغي نوپه فکر اواحساس کې یې داسې بدلون راغلی ؤ چې بیا ترمرګه د فویوډالي مغلو سره جوړ رانغلو اودمړینې په وخت کې یې دا وصیت وکړ چې ماپه داسې ځاي کې کړئ چې دمغلو د اسونوګرد راباندې ونه لویږي .

کوم وخت چې خوشحال خان کورته راورسید نوپه دې وخت کې مهابت خان دکابل په صوبدارۍ مقررشوی و اودخوشحال خان سره یې دپخوانه پیژندل .

---

په یوه څلوریځه کې یوځای زامن تر شپتو زیات ګڼي :
((په شمارمې زویه تر شپېته زیات دي          نیمګي به مړه وي نیمګي حیات دي )) (کلیات 847مخ )
خوشحال خان په وروستي وخت کې دخپلو زامنو اونمسیو شمیر سل ښودلی دي :
((دخوشحال خټک که سل زویه نمسي دي          لا لایق دخاني نه وینم پسر )) (کلیات 108مخ )
۲ ـ خوشحال خان په یونظم کې خپل ترونه دولس ښودلي دي :
راپاتې یو نشو دوولس مې ترونه وو          ولاړل فنا شول چې او لسونه وو

کوم وخت چې مهابت خان پیښورته راورسید نو داورنګزیب حکم سره سم یې په یوسفزو کې د((لنګرکوټ)) کلا په جوړولو برید وکړ او هم یې خوشحال خان ته لوی منصب اود یوسفزودعلاقې حکمراني وروړاندې کړه،خوځنګه چې یوسفزو دخوشحال خان دبند په وخت کې دهغه سره مرسته کړې وه نوبیاپه هغه په داسې ټیټه سودا ونه غولید ځکه په دغه وخت کې له ده سره یواځې دځان سودا نه وه بلکې دخپل قوم او کلتور فکر ورسره وه نو هماغه وه چې مهابت خان ته یې په ځواب کې داسې ولیکل :

((... که چېرې زه اوس دیوسفزو مخالفت وکړم نو دابه زما له پاره دانسانیت او پښتونولۍ په آیین کې یوه داسې بدنامي وي چې دهغې داغ به په یوې نیک نامۍ هم لرې نه شي...)). پس له دې خوشحال خان دپښتنو کلک وفادار لیډر پاتې شو. سره له دې چې خوشحال خان له درې سوه ډیر اثار درلودل. دخوشحال کوم اثار چې دزمانې له تاړاکه پاتې دي په لاندې ډول دي :

1. دیوان :

دخوشحال دیوان ترڅلوېښتو زرو زیات بیتونه لري لکه چې پخپله وایي :

درست دیوان مې لکه باغ دعلم ګنج دی
په کې هر رنګه ګلونه هر نهال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددیوان مې که بیت بیت سره حساب کړې
ترڅلویښت زره به تیرشي په سرکال

دخوشحال دیوان څوځلې چاپ شوی دی :

⇒ په پیښور کې دبیلیو له خوا . 1870 کال کې .
⇒ په هوتي مردان کې دعبدالمجید په سریزه دعبدالرحمن له خوا په 1929 کال کې
⇒ په قندهار کې دحبیبي له خوا په 1938 کال کې .
⇒ په پیښور کې د دوست محمد کامل له خوا په 1952 کال کې .
⇒ په پیښور کې دسید رسول رسا له خوا دارمغان خوشحال په نامه په 1964 کال
⇒ دپښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی
⇒په دانش خپرندویه ټولنې کې دخوشحال خان بشپړ منظوم کلیات په 1385 یونیز لمریز کال کې د زاهد مشوانې له خوا چاپ شوی دی .

پاتې دې نه وي چې دخوشحال خان دبیتونو شمېر څلویښت زرو ته رسیږي خو یوشمېر یې په لاس کې نه شته .

2. فضل نامه : (دوړوکي بحر مثنوي مذهبي مسایل) یو دیني کتاب دی .
3. فرخنامه : دتورې او قلم د بحث اثر دی .
4. فراقنامه .
5. ریاض الحقیقت .
6. هدایه ( دعربي نه په پښتو ترجمه ) ده .
7. دستارنامه .
8. صحت البدن
9. سوات نامه
10عیار دانش ( دفارسي څخه ترجمه )
11 آیینه ( د فقهې کتاب )
12 بازنامه ( دښکار بحث دی)
13 بیاض (په نثر کې دپښتو تاریخ)
14 دپښتو تاریخ ( ورک دی )
15 زنځیري ( دلنډ لیک په باره کې یوه لنډه رساله ) ده .
16دخوشحال رباعیات
17تفسیر سورت یوسف (1)

دخوشحال داشعارو مفکوره

دخوشحال په اشعارو او اثارو کې دټولنې دژوندانه مختلف اړخونه په څرګنده توګه ښکاري . دده په اشعارو کې دپند خبرې، سیاست ، ننګ، توره ، پت،ښېګڼه، وفا، درانه خویونه ، علم ، هنراو کار، دوطن مینه ، انتقاد، زر او مال، دخان ښودنه ،دوستي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

عشق، ازادي،بشردوستي او داسې نور مسايل شته دي چې په لنډ ډول به داشعارو په راوړلو وښودل شي .

همدا ډول خوشحال خان په پښتوکې داشعارو ټول ډولونه لکه : غزل،قصیده ،رباعي،قطعه،مثنوي،مسدس، مخمس....)). رواج کړل .

(1) دتورې او قلم خاوند . دپېښور چاپ 29 مخ

---

# ګل پاچا الفت

ګل پاچا الفت دعزیز خان په کڅ کې په (1287یونیز لمریز) او په (1909 زیږدیز) کال زیږېدلی دی. پلارېې میرسعید پاچا او نیکه یې سعید فقیرپاچا نومیږي چې دنسب سلسله یې دحضرت عبدالقادرجیلاني په واسطه حضرت محمد (ص) ته رسیږي .

ګل پاچا الفت دفطرت په لمن کې لوی شو دطبیعت روزنه او پالنه یې ولیده او لکه دکابل سینددغاړې غاټول دلغمان اوبو او هوا لوی کړ هغه وخت مدرسه یا مکتب نه وه چې دا ګل په کې سبق ولولي خو لکه دپښتنو نورو ماشومانو یواځې د فطرت نه درس واخیست .

اسمان او ځمکې ته دومره ځیر شو چې دفطرت اسرار یې په خپل ژور کاته لوڅ کړل او هغه څه یې زده کړل چې بل چا په مدرسو او پوهنتونونو کې نه وه زده کړي.

دلغمان دورشو ښکلی ګل دپښتو ادب په ګلستان کې ډزر په ښکلا وغوړید او په الفت مشهور شو الفت دپښتو ادب یوځلانده ستوری دی، که دپښتو ادب نن ورځ یو بهترین لیکوال او شاعر لري نو هغه به الفت وي .

دالفت هنر په پښتو نثر او نظم کې ښه ښکاري او ځانته یو خاص طرز لري، دالفت نثر هم شعردی اونظم هم شعردی کوم وخت چې په نثرڅه لیکي نو دفطرت ډېر نازک او واړه دقایق ویني او څرګندوي ، دانسان داجتماعي ژوند ډېرې ښیګنې په داسې ژبه بیانوي چې لوستونکي یې د ده استدلال په ښه ډول قانع کوي. دالفت په نثر او نظم کې کوم تاریخي او فلسفي استدلال نه شته مګردفطرت د هر ګوټ څخه داسې دلایل راباسي چې تر هر رنګه منطقي استدلال ښه او ټینګ وي. دده هنر همدا دی چې ځانته خاصه د استدلال لاره لري او دژوندانه عادي وقایع هریوه دده له پاره دشعر یوه غوره موضوع وي .

کله کله دالفت نثر تر نظم خوږ وي الفت په نثر کې الفاظ هسې سره پیودلي چې ترهررنګه نظم ښه ښکاري او غوره وي دهنرمند هنر او کمال دادی چې عادي شي ته ښکلی رنګ ورکړي ، لنډه داچې الفت یو ماهر او ستر هنرمند دی چې دده په هنر کې دادرې غټې ښیګڼې وینو :

1- جمال : - دالفاظو او کلماتو غوره کول او بیا دهغو ترتیب او پیوندونه یعنې نظم یې غټې نښانې دي .

2- برهان او استدلال : - که دفطرت له هرمظهره څخه وي یومنلی دلیل جوړولی شي او دده په نظر کې ددنیا ټول مظاهر داستدلال له پاره څرګندې نښې دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

3- انتقاد: - انتقاد دده دهنر غټه ښېګڼه ده ، دمظلومو خواخوږی دی،د اجتماعي ظلمونو سخت دښمن دی،ليکنې يې که منظومې وي او که منثورې ولې تېريو ته ګوته نيسي او دده قلم په دې خوا کې ډېر تيز دی .

ددښمنانو اسرار لوڅوي او دمظلومولوڅو لغړو په کوټو ورننوځي ددوي د فلاکت او بدبختۍ حال ګوري او هغه داولس دعبرت له پاره په داسې ژبه بيانوي چې که دچاززه کلک هم وي بيابه هم اغيزه پرې وکړي دالفت هيڅ منظوم يا منثور اثر نه شته چې له دغو ښېګڼو څنې خالي وي، ځکه نن دپښتنو ليکوالوپه ډله کې استاد الفت ترټولو مخکښې دريږي او دده ليکونه دپښتو ادب شمله ګڼلی شو.

## داستاد الفت ادبي خلاقيت

خدای ښبلی الفت دمعاصرو پښتو ادبياتو سترنقاد دهنري نثر ښکاره مترقي نماينده او په پښتو شاعرۍ کې د ډېرو ګټ،رو اجتماعي موضوعاتو سپړلو او څېړلو نه په غير دنوي تخيلي شاعرانه ابتکار خاوند ګڼل کيږي. دالفت نبوغ په دې کې نه دی چې په ډېرو پوستونو کښې يې کار کړی دی يا څوځلې ولسي شورا کښې دخلکود نماينده (وکيل) په حيث پاتې شوی دی .

موږ دده بل اړخ باندې خبرې کوو:

لکه چه پو هيږوپه يوه ټولنه کې نوې دموکراتيکې غوښتنې اودهغوی نه رابرسيره شوې مترقي مفکورې په خپل سر منځ ته نه راځي بلکه داديولږهغو اجتماعي،اقتصادي قوانينوپربنسټ اومترقي ايډالونه دټولنې دروڼ اندې قشرپه وسيله پراختياومومي ددغو په انتقال کښې دشاعراوليکوال رول ډيربا ارزښته دی ځکه چه د اوسنيو ادبي مطالعاتو څېړنوداثابته کړې چه يو اجتماعي ، انساني ليکوال اوشاعر بايد دمترقي مفکورو ممثل اوناقل وي .

استادالفت دخپل ځان اومسلک په څرنګوالي ډير پخوا پوښوی اوپرته له دې نه چه په کومه مدرسه کښې لوستی وي هغه يې دخپلو مغزونه راوېستلي دي اودخپل ادبي پر نسيپ د بنسټ دتيزي په حيث يې منلي دي موږ ته دعلامه اقبال داشعرمعلوم دی چې ويلي دي :

ويلي دي اقبال چه دقوم شاعران سترګې دي

دردچې په هرځاي وي دوجودپه ګريان سترګې دي .

خوداستادالفت لپاره يوازې ژړاکفايت نه کوي ځکه چه انسان احساس هم لري او ... کړه وړه هم نويوازې ژړاکول يو بې فايدې شی دی ښه به داوي چه احساس سره عمل هم ملګری شي ترڅوچې دمنځه تللواو اساس چاره يې وشي.الفت وايي:

دادنياصفت دی دغه چې هم ښکلې وي هم بکره

اوس دغه ښايسته واړه دشاعرپه دبُستان کې

داستاد الفت په نظر کښې شاعري دهرچا کارنه دی ممکن ډيرکسان وکولای شي چه ژبې ته هنري فورم ورکړي الفاظ سره وپيودي اوياحتی عادي خبرې هم دواعظې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوخطابې مقام ته ورسوي خوکوم شیانوته چې الفت په شاعري یې غاړه ایږدي هغه معنوي ... کیفیت د قوم فکر د قوم غم اودنوروفکرونو انتقال دحقیقت لټون ورسره دلفظی هنر ښکلا او ابتکاردی.
که ربښتیاهم موږ په دغه صفاتوکوم شاعر لټوو نو دالفت نه پرته بل څوک دې مرتبې ته نه شي رسېدلی . داده خپله خبره چې (( په لاره ډېر خلک تیریږي څوک هغه مرغلره مونده کوي چې دکومې ښکلې پیغلې د امیل نه لویږي او څوک د زاړه دیوال توره کټوه ګوري . )) دده دبصارت ((بعارت)) همدغه قوت یا استعداد دده اثارو ته ابتکاري رنګ ورکړی چې د تخیل په ګاڼه ښکلي شوي دي زموږ په نزد دده هر شعر منتخب او غوره دی .
لکه څنګه چې مخکښې وویل شوه استاد الفت دوخت سوالونه او مهم پرابلومونه درک کړي دي او دهغو په اساس یې خپل شاعرانه نسب العین تعین کړی دی دده په اثارو کې داسې نمونې به ډېرې کمې پیداشي چې په هغوی کښې داجتماعي-ملي-وطني-سیاسي- موضوعګانې نه وي څرګندې شوي. دده په اثارو کښې مهم موضوع داده چې افغانان خپل وروسته والي ته متوجه کړي اودنوي ژوند له پاره رابېدار شي.
موږ ډېر داسې لیکوالان او شاعران پیژنو چې په نامسادرو حالاتو کې د ریالیزم په عصر کښې په رومانتیک ټالونو ځانګې او یا اجتماعي او ملي مسایلو دڅېړلو په ځای تصوف ته قلم ټینګ کړی او طبیعت ته ولاړ شي.
خودشلمې (20) پیړۍ قهرمان نسل دغسې نامساعدو شرایطو سره پنجه نرمه کړې او قرارېې په قرار کې ونه لټاوه، استاد الفت دعصر د ترجمان او پښتو کلاسیکو ادبیاتو دیو اصل وارث په توګه دا ضرورت درک کړ او دمړینې تر وخته یې ویښ زلمي ته سندرې ویلې . داستاد الفت په اشعارو کښې (منثور او منظوم) کې ډېر اجتماعي موضوعګانې په ښکلي رنګ اجراشوي دي. موږ نه وایو چې الفت مینه نه درلوده. زړه یې نه وه او یایې ښکلي مخونه نه خوښېدل نه دده سره هرڅه وه ، دی نه یوازې دانسانانود ښکلا په کیفیت پوهېده بلکې دطبیعت ټولې ښکلاوې ده ته څرګندې وې دسهار هغه خوږه وږمه چې نورو دساه کښلو له پاره په کاروله نو ده به یې له لطافت او ښکلاوې د نوي ژوند پیغامونه هم لوستل کیږي، خو ددې ټولو په موجودیت کې استاد الفت شو .
ټولنه دهغه محبوبا شوه او دښکلې پیغلې دهسکې مرمرینې غاړې دامیلونو دانې دبزګر او کارګر دلاس تناکې دده الفت دی چې موږ کې ځای لري او ترڅو پښتون اولس ژوندی وي نو به الفت ورسره وي .
استاد الفت دټولنې اساسي او عمده رکن ((بزګران)) په ډېرو ښو الفاظو یاد کړي او دهغوي سره یې تل خپله خوا خوږي ښودلې ده البته یوازې همدا هم کافي نه ده بلکې د دوی دپاره یې څه تول کړي دي داچه الفت ددغې مقدسې سیاسي – اجتماعي ایدیال په تحقیق ورکولو کې څومره بریالی ؤ هغه ځانته موضوع ده بلکې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجتماعي جريانونه ضرور ياد وو چې ددغې زحمتکشې طبعې داقتصادي اجتماعي موقف نه رابرسېره شوي نابرابريو په باره کې ويل شوي .

زه بل څوک نه يم اولاد دغريبانويم
سکنی ورور دعاجزانو دخوارانو يمه
يمه له خاورونه پيدا خورمه له خاور نه پيدا
دلاس نيالګي ددې غريبو دهقانانو يمه
په زړه کې دبل چا محبت مه لټوئ
زه دخوارانو د ډيو له پتنګانو يمه

په پورته شعر کې استاد الفت ډېر اوچت او عالي انساني احساس او تفکر انعکاس موندلی دی هغه ځان دغريبو ګټو ساتندوی او دهغو دپرګنو ددښمنانو دښمن ګڼلی هغه ډيرې پيچلې ورځنې موضوعات په ارامه لهجه او سړه سينه بيان کړي دي دهغه ډېرې ليکنې دوعظ او نصيحت په شکل دي خوپه پورته شعر کښې يې لهجه تونده او دريځ يې برابر دی، کله چې دی په کليو او ښارونو کې طبقاتي امتيازات ګوري يو په موټرکې اوبل په خره پسې روان دی،نوبيا ددغه ټيټ او چګ داصلاح له پاره انتقادي ليکنې کړي دي .

## داستاد الفت اثار او ليکنې

که سړی داستاد الفت داثارو مطالعه ولري نو به ورزياده شي چې دده اثار په عمومي ډول تر پنځو کټه ګوريو لاندې مطالعه کېدای شي .

1- تخليقي اثار 2- تحقيقي اثار 3- تحليلي اثار 4- ترجمې 5- په نورو ژبو ليکنې

1- تخليقي اثار : داستاد الفت تخليقي اثار په دوه عمده څانګو ويشل کيږي : منظوم او منثور

الف : منظوم اثار : لکه : 1- دپسرلي نغمه 2- ښه لمسون 3- عالي افکار 4- دازادي پيغام 5- غوره اشعار 6- دزړه وينا 7 – ناچاپ اشعار .

ب : منثور تخليقي اثار : لکه : 1- بله ډيوه 2- نوی سبک او نوی ادب
3- غوره نثرونه .

2 – تحقيقي اثار : استاد ګل پاچا الفت دخپلو مهمو او جالبو تخليقي اثارو تر څنګه په بېلو بېلوبرخوکې تخقيقي اثاررامنځ ته کړي دي.چې په لاندې ډول دي:

1- لغوي څېړنه 2- څه ليک يا ليک پوهه 3- املاء او انشا 4- ليکوالي 5- ادبي بحثونه 6- پښتو سندرې 7 – ملي قهرمان 8- منطق 9- پښتونولي... او په همدې ډول ځينې نورې مقالې او رسالې دي .

3 – تحليلي ليکنې او اثار : داستاد الفت ځينې اثار او ليکنې تخليلي بڼه لري دموضوعاتو تفصيل او تفسير يې دده خپل تحليل دی.

استاد په بېلو بېلو وختونو کښې تحليلي څېړنې او مقالات وړاندې کړي دي چې دمثال له پاره يې دڅوليکنو يادونه کووو :

(c) ketabton.com: The Digital Library

1- زموږ ادبي نهضت یا اوسنی ادب 2 – دپښتو اوسنی مشاعرې 3- دشعر او ادب په مجموعه کې دشعر په باب داستاد دیوه تحلیلي مقاله چاپ شوي دي . سربېره پرادبي تحلیلي څېړنو استاد دسیاسي پېښو او اجتماعي مسایلوهم ځینې تحلیلي څېړنې اولیکنې لري لکه:داولس،افغان اونوروملي او دولتي جریدوکښې دورځنیو پېښو سیاسي او اجتماعي مسایلوپه باب تحلیلونه
1- لوړ خیالونه او ژور فکرونه 2- داحمدشاه بابا افغان ترجمه او لنډیز
3- دټولنې علم 4- د مؤفقیت لاره داستاد دوه نور اثار دي چې له نورو ژبو یې ترجمه کړي دي خو چاپ نه دي . 5- په نورو ژبو لیکنې لکه چې دمخه مو وویل استاد الفت له خپلې مورنۍ ژبې (پښتو) سربېره په نورو ژبو هم پوهېده په دغو ژبویې لیکنې کړي او اشعار یې ویلي .
1- فارسي لیکنې : په فارسي ژبه استاد کوم مستقل اثر موږ ته نه دی معلوم خومتفرقې لیکنې یې زیاتې دي . استاد ډېر علمي – سیاسي او ادبي مسایل په دې ژبه کښلي دي او ښه اشعار یې هم په دې ژبه ویلي دي .
2- عربي لیکنې : استاد الفت په عربي ژبه هم لیکنې لري دده عربي لیکنې دالفلاح په مجله کې چاپ شوي دي، استاد له دغو پورته ډول معرفي شوو اثارو سربېره نور ډېر کتابونه لیکلي دي چې ناچاپ دي. لکه : 1- نوی څرک
2- اجتماعي نظریات .

## صادق هدایت

صادق هدایت د (1281) کال دبهمن په میاشت کې په یوه بډایه کورنۍ کې وزیږېده او دا هغه وخت دی چې په ایران کې دازادي غوښتنې حرکت شروع شوی و.
لومړني تحصیلات یې دعلمیه په مدرسه کې او متوسطه تحصیلات یې دسن لویې په دارالفنون کې سرته ورسول او په فرانسوي ژبه پوهزده .
هدایت دخپل ژوند په لومړیو کلونو کښې دانسان پېژندنې په مطالعه پیل وکړ او دانسان افکار او رفتاریې ترمطالعې لاندې ونیول صادق هدایت خپل لومړنی کتاب د (فواید ګیاه خوري) په نامه چاپ کړی دی .
په 1305 کال دمحصیلینو په لومړۍ ډله کې اروپاته ولاړ یوکال یې په بلزیک او وروسته یې څلورکاله په فرانسه کې تېر کړل خپل وخت یې دمهاري زیات وخت یې دادبیاتو دمطالعې او تحقیق په برخه کې چې ده زیاته مینه ورسره درلوده تېر کړل. وایې چې په همدغه وخت کې یې دځان په وژلولاس پورې کړ چې بیا خلاصون (نجات) ورکړل شو.
په 1310 کال کې دزیاتو معلوماتو سره چې عمریې دېرشوکالوته رسېده بېرته ایران ته راستون شو لومړی دایران په ملي بانک کې استخدام شو،چې ډېر ژرله هغه ځایه وشړل شو، ورپسې یې په یوه ساختماني شرکت کې کار پیل کړ اوله دې وروسته بیا په بانک کې مقررشو لنډه داچې په پای کې یې دموسیقي او ښکلو هنرونو په اداره کې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دده په زړه پورې ځانګه وه په کار پيل وکړ چې خپل زيات وخت به يې په څيړنواو مطالعو تېراوه .

له دې وروسته هدايت بيا دسفر عزم کوي او په 1315 کال هند ته ځي چې هلته پهلوي ژبه زده کوي، او هغه اثار چې په پهلوي ژبه دايران په باره کې ليکل شوي وه په پارسي ژبه وژباړل او په همدې ډول يې دهند دخلکو ژوند او فلسفه تر څيړنې لاندې ونيول.

په دې وخت کې صادق هدايت دمادي ستونزو سره لاس او ګرېوان کيږي او بېرته ايران ته راځي هغه اثار چې هدايت دخپل ژوند په شلوکلونوکې منځ ته راوړي زياته برخه يې څيړنې ، ژباړې او په همدې ډول يولړ نور اثار چې چغې ژړاګانې او نااميدئ هغه هم دکتابونو په توګه دځان سره لرلي نور څه نه دي .

دده دهنري ارزيابي په برخه کې بايد سړی ووايي چې دی دهند ادبياتو د فلسفې دخلکودادبياتواودژبې پيژندنې په برخه کې دزياتومعلوماتوخاوند دی .

دشهرپور څخه وروسته سم دلاسه قفلونه ماتيږي خولې خلاصيږي او هدايت هم مسکی کيږی دخپلې په زهرو لړلې کوټې څخه راوزي او په خپلو دغو اثارو لکه د ( حاجي آقا) (آب زندګي) (فوايد ګياه خوري)او (ميهن پرست) خلک له خوبه راويښوي.

مګر افسوس چې هدايت ډېر ژر دنااميدئ ځنځيرونه خپلولاسون ته اچوي او هغو خاصو شرايطوته چې منځ ته راغلي وه ځان تسليموي او دخپل وروستي اثر چې د((پيام کافګا)) په نامه يې په (1327) کال کې وليکه او خپل هنري ژوند پای ته رسوي . پاتې دې نه وي چې دصادق هدايت په وجود کې همېشه دوه متضاد قوتونه دجګړې په حال کې وه هغه ژوند او مرګ وه .

صادق هدايت تل دايران دکورنيو شرايطو تابع وه په دې مانا چې کله به وضعه لږ څه مناسبه وه نو دده په ژوند کې به هم ښه والی منځ ته راته او کله به چې ارتجاعي او شيطاني قوتونو چارې واګې په لاس کې لرلې نو دهدايت اندامونه به هم لړزېدل له همدې کبله ده چې ځينو هدايت دنابغه په نامه يادکړی دی او ځينو دليونی او تند خويه خطاب ورته کړی دی .

هدايت په 1329 کال کې د وروستي ځل له پاره پاريس ته ځي او هلته هم په مشکل سره دځومياشتو دپاتې کېدلو امکان لاس ته راوړي او په شکايت لاس پورې کوي چې په فرانسه کې دايرانيانوله پاره مشکلات وجودلري اوداسې نور

هدايت غوښتل چې سويس او باکو هېوادونو ته لاړ شي مګر ژوند ورسره ياري ونه کړه او د (1951) کال (4) اپريل کې چې د (1330) کال دفروردين دمياشتې سره سمون خوري د(48) کالو په عمر يې خپل غم لړلی ژوند پای ته ورساوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عزيز (نسين) دترکيي خلکو ليکوال او طنز ليکونکی

عزيز نسين چې اصيل نوم يې نصرت دی په 1915 کال په استانبول کې په يوه بې وزله کورنۍ کې پيداشوی دی .

دعزيز نسين پلار چې اصلاً په ((انادولو)) کې لوی شوی وو په ديارلس کلنۍ کې استانبول ته راغی او دعزيز نسين دمور سره چې دا هم اصلاً د (انادولو) اوسېدونکې وه واده وکړ. او عزيز نسين دلومړي نړيوال جګړې په يوه خونړۍ ورځ دجون په مياشت کې دهېبلې په ټاپو کې دنيا ته راغی .

دی ديوې بې وزلې کورنې بچی و.اوپه دې وياړ کوي چې دخپل ملت اوخلکوپه هغه کتارکې ولاړ اومنصوب دی چې دهېوادپه سلوکې نوي خلک په دغه کتار کې شمېرل کيږي.

عزيزنسين نورځلوروونه درلودل چې دلوږې اوتندې په وړاندې يې مقاومت ونشوکړای اوديوبل پسې يې خپل ځانونه دلاسه ورکړه .دعزيزنسين مورپه (26) کلنې کې ددې لپاره چې اعيان اواشراف وکړای شي چې ښه ژوند تيرکړي مړه شوه .

څنګه چې پوهيږی دسوداګرانواوپانګوالوژوند په پانګوالي هيوادونوکې ډېرښه دی نوپه داسې يوه هيوادکې چې هلته يوه نيمه خوااوغيرې صنعتي پانګوالي حاکمه وه اوده ليکوالي ته مخه کړه اوخوندوره خبره خوداده چې ددوي په کورکې هسې داکارنه ؤکړی يعنې دده په ټوله کورنې کې داسې څوک نه وچې لوستل اوليکل وکړای شي .

عزيزنسين په (1940) کال کې يوې خطرناکه ناروغې ونيولواودې نارغۍ تقريبًا دوه کاله وځورولواوروسته له دووکلولږ.څه ښه شو،نسين لاوړوکی وچې دخپلوملګروسره يې دلوبوپه وخت کې دليکوال رول لوباوه، عزيزنسين په يوه پوځي ښوونځي کې په لوست بوخت واوددې لپاره چې دهېواد په پوځ کې خلکوته خد مت وکړي اوڅرنګه چې دهيواد په پوځي ښوونځيواوپوهنځيوکې دليکوالۍ اوسياسي زده کړوسره مينه نه وه اودپوځ په ټولوځانګوکې لکه ملکي اداره - پياده - زغره لرونکې مخابره اونوروځانګوکې دليکوالۍ دځانګې نښه نښانه نه وه په(1944)کال کې دپوځ څخه استفاو کړه. نسين دليکوالۍ په دنده لاهغه وخت پيل کړی ؤ چې پوځ کې ددې له امله چې ده خپلې ليکنې په خپل نامه نه شوي خپرولی نو دخپل پلارپه نامه يې چې عزيز نسين نوميده خپلې ليکنې خپرولې .اودغه ساختګي نوم ډېر ژرذده اصلي نوم شو او اوس يې هم خلک په همدغه نامه پيژني . هغه وخت خلکو نسين ځوان ليکوال بللو اودده پلارپه کړوپه ملا اوسپينې ږيرې په يوه اداره کښې په کاربوخت ؤ . اوپه تيره بيا چې چا هغه په اصلي نوم نه پيژانده دغه کار دهغه لپاره ډېر ې ستونزې منځ ته راوړلې اودده پلار ترڅو چې ژوندی و ونشو کړای چې داثابته کړي چې دهغه نوم عزيز نسين دی. کله چې دنسين کتابونه دنړۍ په ډېرو ژونديو ژبو وژباړل شول ديوې بلې ستونزې سره مخامخ شو،داځکه چې ځنې خلکو دتأليف دحق پيسې د عزيز نسين په

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوم راالیږلي خوددې لپاره چې دده نوم نصرت نسین ؤ ددغو پیسو داخستلو څخه عاجز پاتې کیدو .
نسین هم داکټرو لیکوالانو په څیر لیکوالي دشاعري څخه پیل کړه او وروسته یې بیا ددې له پاره شعر او شاعري خوشې کړه چې یې نه غوښتل شعر توهین کړي. داځکه چې ده شعر او شاعري ته ډېر درناوی لرلو البته خلق شعر او خلق شاعر ته نسین دشعر په ستر توب پوره ایمان لري اوپه دې پوهېده ، هغه کسان چې ستر شاعران دي زیار کاږي چې ستر لیکوالان هم شي .
نسین هغومره چې په لیکوالۍ کې مؤفق و په شاعري کې یې هم کم لاس لرلو...
عزیز نسین دخپل شعر دشهرت په باب داسې وایي :
((البته زماشعرونه ددې له پاره مشهور شول چې ماترخپل شعرلاندې دیوې ښځې نوم لیکه او په دې توګه مې خپله لومړنۍ دژوند کیسه دپورتنۍ انګیزې ترتأثیر لاندې ولیکله او هغه مې یوه انجمن ته ورکړه دانجمن رءیس چې څرګندیده دلیکوالۍ سره ډېره اشنایي نه لري ددې پرځای چې کیسه یې وژړوي ، کټ،کټ یې وخندل او ماته یې وویل : پس له دې نه موږ ته همداسې دخندا وړ کیسې ولیکه آفرین !
دلیکوالۍ په نړۍ کې مې دغه کیسه لاتراوسه هېره شوې نه ده زیاتره کیسې مې چې دخلکو دژړا او دطبقاتي ژوند تل ته دځیرکېدو له پاره لیکلي دي ځینې لوستونکي یې خندولي دي او په دغه وسیله یې پرماباندې دفکاهي لیکونکي نوم اېښی دی . خو (تراوسه هم چې ډېر کلونه تېر شوي دي زه پوهیږم غواړم تاسوته ووایم البته زه دزمانې په بهیر کې فکاهي لیکونکی شوم اودخپلو مینه والو او اشنایانو ددې پوښتنې په ځواب کې چې فکاهي لیکنه څه رنګه هنر دی، دومره ویلي دي چې فکاهي لیکنه دلیکوالۍ ډېره سخته څانګه ده ، په 1945 کال کې دوخت د دولت په مرسته او دځینو قشري عناصرو په همکاري دعزیز نسین د ورځپاڼې دفترچي (ټان,TAN)نومیده ونړید او پس له هغه نه ډېره موده بېکاره پاتې شو اودیوې مړۍ ډوډۍ دلاس ته راوړلو له پاره بېهلې ځلې کولې او هیڅ یوې ورځپاڼې او یا مجلې ورته دکار اجازه ورنه کړه او مجبور شو چې په (200) مستعارو نومونو سره ورځپاڼو او مجلو ته مقالې او راز، راز مطالب ورکړي، دده مطالب په دغه وختونو کې ورځپاڼو او مجلو ته دهغو داستانونو، راپورتاژونو، لطیفو او عشقي کیسه لیکل وو چې ټولو یې دخلکو د دردونو څخه حکایت کاوه.
دده مستعار نومونه ترهغه وخته پورې پاتې کیدل چې دورځپاڼواومجلوآمران دحقیقت څخه یعنې داصلي لیکوال دهویت څخه خبریدل . خوپس له هغه نه یې بیا بل مستعارنوم پرځان ایښوده .بایدووایو چې دنسین مستعارو نومونوډېرې اشتباه ګانې منځ ته راوړلې دمثال په توګه دده د هغه لنډ رومان نوم چې کوچنیانو ته یې لیکلي و.
((هغه ))او((اور )) ایښی و . دغه دده ددولسو زامنو نومونه وو دغه کتاب ډېر ژر مشهورشو اوپه وړکتونواوښوونځیوکښې یې دلوست دکتاب په توګه ورڅخه ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخستله . ان دميرمنو دټولنې استازې ددغه کتاب دناشر سره چې یوه څلویښت کلنه وه مرکه وکړه .

اوبیاهغه مقاله چې یې دیو فرانسوي په نامه ولیکله خورا مشهوره شوه اودغه مقاله دفرانسي دمقاله لیکلو دیوطرزپه بڼه په یوه ننداریې کښې ولوستل شوه .

بیایې په یوچینایي مستعار نوم یوه مقاله ولیکله چې دغه مقاله هم دچین دسبک په فکاهي مشهور شو. البته په هغه موده کې نسین ونه شو کړای چې دکورنۍ او دکوچنیانو دژوند لګښت دلیکوالۍ له لارې نه لاس ته راوړي په بقالۍ، خواړه خرڅولو اوعکاسي یې لاس پورې کړ او همدا راز یې دیوڅه مودې له پاره په یوه شرکت کښې دمحاسب په توګه هم کار کړی دی .

نسین دڅینو اثارو دلیکلو ګناه پنځه میاشتې په بند هم محکوم شوی چې ددغې جملې نه شپږ میاشتې دهغې مقالې له امله وو چې دمصردپاچا ملک فاروق او دیوبل په هکله یې لیکلی وو، نو دوی دخپلوشفیرانو په واسطه نسین ترقانوني تعقیب لاندې ونیو او بندي یې کړ. نسین دخپل بندیتوب په باب داسې لیکي: (( کله چې په کال 1945 کې ونیول شوم – پولیس دشپږو ورځو تحقیقاتو په ترڅ کې راڅخه وپوښتل چې : دهغه چا اصلي نوم چې کیسې او مقالې یې په دومره مستعارو نومونو چاپیږي څوک دی ، باور وکړئ هغوی ډاډه نه وو چې دا دومره اثار به زما وي .

دوه کاله وروسته کار برعکس شوه هرڅومره لیکنې به چې په مستعار نوم دپولیسو لاس ته ورتللې هغه به یې زما په حساب شمېرلې او زه له ډېرو ربړونو او کړاوونو څخه وروسته په دې بریالی کېدم چې ثابته کړم دغه لیکنه زما نه ده .یوځل شپاړس میاشتې دبل چا دیوه لیکنې په ګناه دپولیسو له خوا بندي شوم ...)

نسین په 1956 کال په ایتالیا کې دفکاهي لیکونکو په سیالۍ کې ګډون وکړ او د سروزرو مډال یې لاس ته راوړ . له همدغې څخه وروسته ټولو ورځپاڼو او مجلو چې هېڅکله یې دده اصیل نوم نه لیکه دده مقالې خپرولې. خو لږ وروسته یې بیا دده دنامه له لیکلو څخه ډه ډه وکړه . په 1966 کال یې دفکاهي لیکونکو په هغه سیالۍ کې ګډون وکړ چې په بلغاریا کې جوړه شوې وه او دلومړۍ درجه مډال یې وګاټه .

په کال 1960 کې دهغو بدلونونو په ویاړ چې ددوی په هېواد کې دترقۍ او سولې په ګټه منځ ته راغلل خپل یو مډال یې دولتي خزانې ته وباښه اودهغه نه وروسته بیا هم بندي شو خو نور مډالونه یې دمبادا ورځې ته وساتل .

ډېر خلک چې وپوهیږي ده لږ تر لږ دوه زره کیسې لیکلي دي ، هک پک پاتې کیږي .

تر1341کال پورې ده پنځوس کتابونه لیکلي وو.اوپه دغه وخت کې 40 زره لېږي پوروړی هم و.

دنسین لیکنې دنړۍ دخلکو په 23 ژبو او کتابونو یې په (17) ژوندیو ژبو کې ژباړل شوي دي . او دده نمایش نامه په (7) هېوادونو کې ښودل شوې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی وایي : (( زه خپل دوه شیان له ټولو څخه پټ،م یو سترړیا او بل خپله پوهه . ماباندې ترټولو زیات انسان ګران دی ، دومره ګران دی چې ځنې وختونه دانسان د مینې له زوره عصباني کیږم . )).

نسین ټولو انسانانو او په تیره بیا ریالیستونکوته سپاربښتنه کوي چې دسولې او عدالت سره مینه ولري ، دظلم او لوټماریٔ سره دښمني ولري او دانسان مینې ته په خپلو زړونو کې ځای ورکړي .

## دعزیز نسین دځینو نشر شوو اثارو نومونه دادي :

1- خدای برنده .
2- تاکسي پنج ریالي.
3- خاطرات یک تبعیدي .
4- دامهای عوضي .
5- زن بهانه ګیر .
6- تف سر بالا.
7- تا کتیک نخورم آدم نمیشم .
8- نابغه هوش .
9- مجسمه حماقت .

# اقبال

علامه اقبال په(1873)میلادي (1289)هجري قمري دسیالکوټ په یوه متوسطه الحاله کورنۍ کې زیږیدلې دی.

داقبال نیکه چې د(لوي هار)ددرې داوسیدونکوڅخه و د درې ورونوپه مشوره دکشمیرنه چې ددوي پلارنی ټاټوبی وهجرت وکړ اودسیالکوټ په ښارکې یې هستوګنه اختیارکړه .

داقبال پلارنورمحمدچې داقبال د زیږیدوپه وخت دسیالکوټ په ښارکې د تجارت په چاروبوخت و د دین مین سړي په حیث پیژندل کیده .

نورمحمددهغه وخت اوشرایطود رسم او رواج مطابق خپل زوی اقبال دقر آن د زده کړې په خاطریومسجدته بوتلو.وروسته له هغې نه اقبال په یوه ابتدایي مدرسه کې په درس ویلوبوخت شو .

اقبال دښونځي د زدکړوپه دوران کې ځانګړې هوښیاري اوزیرکي ښکاره کړه او دخپل زیرکۍ اوهوښیاریٔ له مخې دیولړجایزوپه لاس ته راوړلوبریالی شو.همدغه وخت ؤچې اقبال دخپل پلار ددوستانوله جملې څخه دیودوست چې((میرحسین)) نومیده اویوعالم اومحقق شخص دښوونې اوروزنې چارې پرمخ وړلې پاملرنه یې جلب کړه.څنګه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقبال هوښياراوبااستعداده و د قوي ذهن خاوند و او په ټولو علوماوفونونوکې يې لاس وهلو.
هغه وخت چې اقبال د ښوونځي په زده کړو بوخت و دشعرونوپه ليکلو يې شروع وکړه .
کله چې مولوي ((ميرحسين))دغه ځانګړتياوې اوامتيازات په اقبال کې مشاهده کړه نوهغه يې نه يوازې دشعرويلوته تشويق کاوه بلکې هغه ته يې داتوصيه هم کوله چې ددې پرځای چې په محلي سبک يې وليکي دابه غوره وي چې په اردويې وليکي .
داقبال په داستانونوکې چې دښوونځي په دوران کې يې ليکلي دي دالطيفه ډيره جالبه ده چې وايې : ((په يوه لنډه موده کې ځوځلې داسې واقع شول چې اقبال ښوونځي ته ناوخته راشي ددې لپاره چې اقبال يې خپل دغه ناوخته راتګ ته متوجه کړی وي نوښوونکي پرې اعتراض وکړ او ويې ويل : اقباله ولې دومره ناوخته ښوونځي ته راځې. ؟
اقبال په ډيره ځانګړي متقانت اوخونسردی سره په جواب کې ورته وويل : اقبال هميشه ناوخته راځي .))
اقبال دلومړنيو زه کړو وروسته دمتوسطو زده کړودسرته رسولولپاره د((استکاج مشق کالج ))ته داخل شو په همدغه وخت کې ده خپل بعضې اشعارچې زياتره غزلې وی دتصحيح لپاره د اردو ژبې مشهورشاعر (داغ ) ته استول داغ د څو ځله اصلاح نه وروسته دا په ښکاره سره وليکل چې : داقبال ا شعار نور پوختګی ته احتياج نه لري يعنې مانايې داچې پخته اورسيدلي دي . اقبال په (1895)ميلادي کال د((استکاج مشق کالج))ددورې پای ته رسولونه وروسته دخپلوزده کړو لومړنۍ ازموينه تيره کړه .او وروسته له هغې نه دلوړو زده کړو له پاره لاهورته لاړ.
اقبال په 1897 کال کې د سرا توماس ارنولډ تر لارښوونې لاندې د (M-A ) په درجه د دمافوق لسانس بری ليک په فلسفه کې تر لاسه کړ. داقبال مقام دشاعر په حيث په هند او پاکستان کې کاملاً تثبيت شوی و او په همدې وختونو کې لومړنی کتاب تأليف او نشر شو داکتاب داقبال اولين اثر و. چې په اردو ژبه داقتصاد په موضوع کې چاپ شو. اقبال د(سرا تو ماس ارنولډ) په توصيه او لارښوونه په 1905 کال دلوړو تحصيلاتو له پاره اروپا ته لاړ، درې کاله په اروپا کې پاتې شو او دغې درې کلنۍ مودې داقبال دفکر په پوخوالي او دشعر کې مهم نقش ولوباوه او د(کيمبريج)په پوهنتون کې دعالي القدر محصل په صفت دفلسفې په رشته کې ومنل شو او دحقوقو دعلم دتحصيل له پاره ( لينکولين آن) پوهنتون ته وليږل شو .
اقبال د(کمبريج) په پوهنتون کې د دوکتورا درجې له پاره (( توسعه تکامل ماورا الطبيعه در ايران)) په نامه رساله تهيه او وړاندې کړه، وروسته ديو څه کمې مودې نه يې الماني ژبه زده کړه پس له هغې نه دخپل مخکيني ذکر شوي تأليف په اساس د (مونيخ) پوهنتون په فلسفه کې د استادۍ درجه ورکړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په 1908 کال قضايي خدمت ته دعوت شو. همدارنګه اقبال وروسته د (کمبریج) او (مونیع) پوهنتونونو داستادئ درجې او قضايي خدمت ته دعوت کېدلونه په 1908 کال خپل وطن ته راستون شو او لاهور ته د راتګ نه وروسته دفلسفې او انګليسي ادبياتو تدريس له پاره دولتي پوهنتون ته ولیږل شو.

اقبال په قران کې هم ژور مطالعات لرل او په پام کې يې لرل چې په دې باره کې کتاب تألیف کړي او په دې منظور يې ډېر کتابونه جمع کړي و او په دې فکر کې و چې دکتاب نوم ( احیای رویه قضايي اسلام) کیږدي .مګر دفکر کهالي او سستی له کبله ددې کتاب له ليکلونه يې صرف نظر وکړ. ولې په هرحال اقبال دخپل ژوند تر اخرنيو ورځو پورې دشاعرئ څخه لاس وانه خیست.

اقبال دمارچ په (25) او (1938) کال د(64) کلون په عمر له دې دنيا نه يې سترګې پټې کړې او نيم ساعت مخکې دخپلې مړينې نه يې دا شعر ويلی دی:

سرود رفته بازاید که ناید نسیمن از جهاز اید که ناید
سرامد روزګار این فقيري دګر دانايي را زايد که نايد

اقبال دا بيت د مرګ په بستر کې ويلو :

نشان مرد مؤمن باتو ګفتم چو مرګ اید تبسم برلب اوست

داقبال جسد په ډېر جم ، جوش او دخلکو په بهير سره دلاهور پادشاهي مسجد تاريخي دروازې ته نږدې خاورته وسپارل شوه .

داقبال دکلام نمونه :

## پيام اقبال

چـــون چـــراغ لالـــه ســوزم درخـــیـابـــان شما ای جـوانـــان عـجم جان من وجان شما
فوطه ها زد در شمير زندګي انـديـشـــه ام تـا بـدسـت اورد ام افکار پنهان شما
مهر ومه ديدم نګاهم برتر از پروين ګذشت ريـخـتـم طرح حرم در کافرستان شما
تاستايش تزتر ګردد فروپـــيـــچـــيـــد مـــش شعله اې اشفته بود اندر بيابان شما
فکر نه کنيم کند نزر توهـــي داستان شرق پاره لعلې که دارم از بـدخشان شما
ميرسد مردې که زنجير غـــلامان بـشکند ديـده ام از روزن ديوار زنـدان شـمـا
حلقه ګيرد من زيند ای پـيـکـران آب وګـل
اتـــش در ســـيـــنـــه دارم از نـــيـــکـــان شـمـا

## داقبال اثار

داقبال دپورته پيژندلو له پاره بايد دده جاويدانو اثارو او ليکنو ته مراجعه وکړو ځکه چې ده دخپل ژوند هره هره قطره خپلو اثارو ته نقل کړي .

1. اسرار خودي
2. رمز بيخودي
3. زبور عجم
4. ګلشن راز جديد
5. بندګي نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

6. پيام مشرق
7. افکار باقي
8. نقش
9. جاويد نامه
10. خطاب به جاويد
11. پس چي بايد کرد
12. مسافر
13. ارمغان حجاز
14. بانک داري
15. بال جبرايیل
16. ضربې کليم

# رابندر رانا ټاګور

په نړۍ کې مشهور شاعر نامتو ډرامه ليکونکی دستاينې ورړ مفکر په 1861 زيږديز کال د مې په 7 نيټه او يا د1278 يونيز سپوږميز کال دکلکتې دشپږپنځوسمې ناحيې (واړ کاناته ټاګورلين) په يوه داسې برهمنده کورنۍ کې زيږېدلی دی چې دبډای ملاکي علم او هنر له امله يې په بنګال کې نوم درلود دغې کورنۍ د 150 کالو راهيسې دلته غربي تمدن او کلتور سره ټينګه اشنايي او علاقه درلوده، خود هندويزم رسم او رواج ارزښتونو ته يې هم تل په درنه سترګه کتلي دي او دنيکونو علمي ادبي او هنري ميراثونو څخه يې لاسونه نه و ختلي ، له دغه امله نود ټاګور په شخصيت کې زاړه کړه وړه او نوي ښايستونه واړه ليدل کيږي. او ليکنې يې دشرقي ثقافت له دلکش رنګ سره دغربي ادب او هنر خوشبويي هم لري .

پراخ نظري او بې تعصبه ټاګور دخپل سپيڅلي زړه په پراخه ګوګل کې د ښستيزې پوهې جواهرات په زياته مينه او په ډېره پاملرنه ساتلې وه . دغربي فونونو او ادبي اثارو په بيه ګرانی ډېری يې هم دهغو په څنګ کې ټينګې نغښتې وې، ځکه نو سيندولين په خپل کتاب (Christian register) (کريسټين رجسټر) کې دټاګور پراخ نظري په باب داسې کښلي دي: (( د مذهب په باب عالي مفکرين چې څومره په پخواني هندوستان کې پيداشوي دي دنړۍ په نورو ملکونو کې نه شته،خو اوسنی هندوستان يې ديوه ډاکتر ټاګور څخه د اخلاقو مل وسيع النظر همدرده او هوښياره معلم نه لري.

په اوسني هندوستان کې ډاکتر ټاګور پرته بل څوک نه شته ، چې زموږ پوهې راڅخه قبولې کړي او دخپل تاريخي ملک ښې پوهې پر موږ پيرزو شي . په ټاګور کې ددغه پراخ نظري سببونه بايد دده په خپل ژوند کې ولټوو)).

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټاګور په (3) کلنۍ او یا (1874) عیسوي کال کې مهارشي (لوی مُرشد) پلار له ځانه سره دمعرفت په لټون پسې دهمالیي غرونو ته وخیژاوه ، په (17) کلنۍ په (1877) (1878) عیسوي کال کې بیا مشر ورور دجیو ټند رنا ته ټاګور چې په جیوتې بابو نوماند و، دلندن کالجونو نه او کلپونه هم لیدل. ټاګور د(کرشنا) نصیحتونه اوریدل په لندن کې یې انګریزي تعلیم او دغربي ساز، اواز او نڅا ننداړې هم په نصیب وې.

ټاګور دبنګال (پدما) رود پرغاړه (نیبدوی) خلکو سره په یوه کشتۍ کې څو میاشتې هم تیرې کړې وې. ټاګور دلندن تر سفره وروسته (شلیډا) په کلي کې دبېوزلو بزګرو لوږې او دلوڅو لیږو مزدورانو محرومیتونه په خپلوسترګو لیدلي وه. داروپایي او امریکایي میلیونرانو کامروایي او دکلتې د سوداګرانو په طلاو کې بازي هم له نظره نه وې پټې .

دغو متضادو قوتونو تجربو او مشاهدو دټاګور شخصیت ته جمیعت ورکړ په هندي راګو او اثارو کې یې دشرقي ادب دناامیدیو له سوزه سره د غربي لیټریچر دامیدو ساز هم حل شو څومره چې په هندوستان او نورو ختیزو ملکونو کې د خلکو خوښې وې هغومره یې په غربي هېوادو کې هم دخلکو زړه یوړ په تیره بیا په انګلستان، اټازویي روسیه او یوګوسلاویا کې دده ډرامې زیاتې مقبولې وې دټاګور (پوسټ افسر) او (راجاراني) نوي ډرامې دټاګور په ژوند دلندن په(کورټ تیاتر) کې د ایرلیند اداکارانو تمثیل کړی دی او په ایټالیا او جرمني کې یې هم څو ډرامې په سټیج باندې ښودل شوي دي .

نوځکه دی دغرب خلکو دشرق شکسپیر باله او دهندیانو (ګرود) نوم یې پرې کېښود دګران مُرشد مانا لري .

دټاګور ډرامې په باب محی الدین کښلي دي : (دټاګور ډرامې له حکمت او فلسفې څخه ډکې دي دده په ډرامو کې دانساني ژوند او کایناتو خورا ژورې مسلې څیړل شوې دي، دده ډرامې زیاتره اجتماعي او تاریخي دي او دمجاز په پرده کې یو حقیقت هرومرو نغښتې دي)).

دټاګور دادبي مقام په باب دهندوستان یو فیلسوف چې همایون تبیر نومیږي داسې لیکلي دي : (( ټاګور هغه لیکوال او شاعر دی چې لږ شاعران او لیکوالان به دې کمیت له لحاظه دده په اندازه اثرونه لري ده تر (1000) زیات شعرونه او تر (2000) زیاتې ترانې ویلې دي لنډ تکلونه ،رومانونه ،ډرامې او تحقیقي مقالې او رسالې یې هم ډېرې دي دکیفیت له مخې هم دټاګور اثرونه په ډېره لوړه درجه کې واقع دي او دنړۍ لږ لیکوالان به دادب دغې حد ته رسېدلي وي .))

دټاګور دشاعرۍ په باب احسان داسې لیکلي دي : ((کومو شاعرانو او لیکوالانو چې دهندوستان دویښتابه او دانقلابي فکر د راوستلو له پاره کار کړی دی په هغو کې به ټاګور نوم تل په عزت سره اخیستل کیږي )). دی دیو ناظم او عادي سازنده له حیث څخه یو وارې ځان ویوست، او دیوه اسماني پیغمبر په توګه دهندوستان جامعې ته راغی له ژبې څخه یې دلفظو پرځای او شیندل کیږي دده ادب او هنر هغه لمبې ولړولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دهندوستان دخلکو خاصې او ټیټې ټولنې په کې لولپه شوې دلته دا خبره باید هېره نه کړو چې ټاګور یوازې د ادب دمیدان میړنی سپور نه وه، بلکې په موسیقي او تمثیل کې یې هم له ډېروڅخه میدان وړی دی هندي موسیقي خو دده خانداني میراث وه او دغربي موسیقي سره یې اشنایي درلوده دخپلو ډرامو په تمثیل کې دټاګور برخه زیاته ده .

مثلاً : (The Genius of Ralmik) په ډرامه کې د (Ralmik) رول ده په خپله ادا کاوه او په (کال هوګیا) او ( ) په ډرامه کې د ړانده سادهوا او شاعر تمثیل د ټاګور پر غاړه ؤ ، په (1840) عیسوي کال یې د (چتراسي) په نامه دخپلو لیکلو رسمونو او تصویرونو البوم خپور کړ د ټاګور مشهور نثر ( ګیتا انجلی) ده چې دنوبل جایزه یې هم ګټلې ده او دده نوم یې په ټوله نړۍ کې لوړ کړ .

دنړۍ له هره ګوټه څخه ورته بلنې راغلې داروپا ، امریکا او اسیا زیاتره ملکونه ولیده، هغه او هندي فلسفه یې دوی ته څرګنده کړه او دوی له تجربو علمي مؤسسو له مشاهداتو څخه یې استفاده وکړه .

دټاګورمشهور او مهم سفرونه دادي :

- ⇒په 1877 کال کې انګلستان ته ولاړ یو کال یې هلته په کالج کې انګلیسي ژبه او ادب ولوست .
- ⇒په 1890 زیږدیز کال کې انګلستان نه جرمني ته ولاړ او په جرمني کې یې غربي موسیقي زده کړه .
- ⇒په 1910 کال کې اتازوني ته لاړه ، دشیکاګو په پوهنتون کې څو لیکچره ورکړه .
- ⇒په 1913 کال کې لندن ته ولاړه او دنوبل جایزه یې واخیسته .
- ⇒په 1915 کال کې جاپان ته ولاړه او دشهنشاهیت پر ضد یې بیانیه ورکړه او په همدې ډول ځینو نورو هېوادونو ته یې سفرونه وکړه .

دهندوستان دغه نړۍ لیدونکی شاعر ممثل او مفکر د 1941 زیږدیز کال د اګست په (7) د (80) کلونو او د دوه میاشتو په عمر په کلکته کې ومړ او نوم یې دیو داسې ادیب او هنرمند په توګه دنړۍ په تاریخ کې پاتې شو چې تر ډېره پورې به یې هندوستان په نامه ویاړي .

د ټاګور د رسمي لمانځلوپه لړ کې دهندوستان حکومت د(رابند ربهون) په نامه په نوي ډهلي کې د ادب او هنر یو لوی مرکز پرانیستلی دی په دغه مرکز کې دشاهنیا په نامه دادبیاتو په نامه دلالیت کالا په نامه د لطیفه فنونو اکاډمي او دسنګیت فاتیک په نامه د رقص او موسیقۍ په نامه اکاډمي شته . د ټاګور مستعار تخلص (بهنوسنګ )وه. چې په دې نامه یې ډېر شعرونه نشر شوي دي . د (بهنوسنګ) په مستعارنامه چې دټاګور کوم شعرونه د بنګال په اخبارونو کې دهغو مجموعه په 1884 کال د بهنوسنګاتا کور ( وابلي) په نامه خپره شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دټاګور تألیفونه

ټاګور په خپل (80) کلن عمر کې په بنګالی ژبه ډېر شعرونه ترانې ، ډرامې ، کتابونه او رسالې لیکلي دي په دغو اثارو کې حینې مؤلف په انګریزي ژبه ترجمه کړي دي ، لکه : ګیتا انجلي او باغوان په نامه او داسې نور دټاګور دټولو اثارو ټولول اسانه کار نه دی دده داثارو کوم نیمګړی لړلیک چې څو کاله پخوا د (کلکته دیویو) د (ټاګور لمبر) په کلکته کې خپور شوي دي او یو څو رانقلوو:

1. په 1878 زیږدیز کال (کویي کاهني) د یوه شاعر نکل دی .
2. په 1880 زیږدیز کال (باناپهول) یعنې دځنګله ګل
3. په 1881 زیږدیز کال ( والمیکي پراتیا) یعنې والمیکي نبوغ
4. په ( بهاګنا هردیا ) یعنې مات زړه
5. د ( سناهیتا سنګیت) یعنې د ماښام سندرې
6. (کال مرګیا) یعنې د خطرناک ښکار ډرامه
7. (پریهات رنګیت) د سهار سندره
8. د (چاپي اوکان) یعنې تصویرونه او سندرې دشعرونو مجموعه ده .
9. د ( راجا او راني ) یعنې پاچا او ملکه
10. د ( چو ګهر وایي) یعنې خوږمنې سترګې
11. د ( راجا پر جهانا) یعنې پاچا او رعیت
12. د ( ګیتا انجلی ) یعنې دسندرو ترانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دټاګور دکلام نمونه

رڼا – اه رڼا چېرې ده !
د ارزو له لرونکي اور څخه هغه بله کړې ډېره ده خو رپېدونکې لمبه نه لري ، اې!
زما زړه ستا قيمت داسې دى .
آه تر داسې ژونده خو مرګ ښه دى .
ذلت ستا ورټکوي او پيغام يې دادى چې : ستا بادار ويښ او د تورې شپې په تېلره کې تا دملاقات ټاکلي ځاى ته ورولي .
اسمان په وريځو کې پټ او باران نه وريږي زه نه يم خبر چې زما په ګوګل کې دا بې تاپ څه شى پروت دى .
د هغه په مطلب نه پوهيږم ....
يوه لمحه برېښنا مې په سترګو باندې توره پرده غوړوي او زما زړه د هغه ځاى لاره لټوي چې ستا دشپې مسته موسيقي مې هلته بولي .
رڼا آه رڼا چېرې ده !
د ارزو په لمبه لرونکي اور هغه پيدا کړه!
وريځې غړمبهار لري په فضاء کې د هوا شور دى ، په توربخونو يا تر ډېرې توره ده خپل وخت دتاريکۍ په حالت کې مه تېروه دخپل دژوند دمحبت ډيوه بله کړه .
لومې يې ټينګې دي کوم وخت چې زه دشلولو زيار باسم زړه مې درد کوي .
زه يوازې ازادي غواړم خو په ارزو يې هم شرميږم .
زما يقين دى چې په تا کې يو بې بها دولت شته او همدا چې ته زما ډېر ښه دوست يې خو په ماکې دومره زړه نه شته چې دخپلې خونې دا ننداره پريږدم ...
هغه پرده چې زه په کې پټ يۀ دخاورو او فناه پرده ده زه ورڅخه کرکه کوم او نفرت لرم خوبيامې هم دخپلې مينې په غيږ کې رانغښتې ده .
زما پوررونه ډېر دي زما ناکامې لويې دي او زما شرم دروند او پټ دى خو بيا هم چې زه د خپل بهبود غوښتلو په ارزو درځم .
نو زړه مې ريږدي چې آه که زما دا ارزوګانې ونه منل شي ...
هغه څه چې ما دخپل نامه سره بندي ساتلى دى په دې زندان کې ژاړي زه تل د ځلور خوا په ودانولو بوخت يم او غغواړم دا ديوالونه تر اسمان پورې لوړ کړم .
خو هر څومره چې لوړيږي په هماغه کچه زما حقيقي وجود دوى په تياره سيورې کې راڅخه ورکيږي .
زه په دې لوړو ديوالونو فخر کوم په شکو او په خاورو کاګلو چې مبادا کندو په کې جوړ نه شي خوسره له دې ټولې پوهې خپل حقيقي وجود راڅخه پټ وي نه يې وينم ... او داسې نور .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماکسیم ګورکي

ماکسیم ګورګي هغه ستر ادبي شخصیت او دشلمې پېړۍ دادبي نبوغ یو ځلانده ستورۍ دی چې په هنري مترقي ادبي لیکنو کې نړیوال شهرت لري .

دشوروي اتحادقهرمان واقعي اوزیار ایستونکي ژوندرښتینی انعکاس ورکوونکې ګورکي چې داستعمار ،امپریالیزم،فیوډالیزم سرمایداري او همدارنګه د داخلي او خارجي ارتجاع پر ضد یې دشوروي اتحاد دخلک د افکارو په تنویر او پیژندلوکې په زړه پورې لیکنې کړي دي .

(1868) عیسوي کال په (نیژني نووګورد) نومې ښار کې زیږیدلي دی . ګورکي پنځه کلن و چې له پلاره پاتې شو او مور یې بل مېړه وکړ او دی دخپل نیکه سره پاتې شو څه رنګه چې دغریب کاله ماشوم و دهغه وخت په شرایطو کې یې ونه شو کولای چې ښوونځي ته دوام ورکړي له دریم ټولګي څخه وایستل شو په دې وجه چې دنیکه اقتصادي وضعه یې خرابه شوه ، ګورکي په (9) کلنۍ کې مجبوره و چې کار وکړي او ډوډۍ ځان ته پیدا کړي .لومړی یې په کوڅو کې زړوکي ټولول او دپلورلو په بیه یې ځانته ډوډۍ پیداکوله بیا له موچي سره مزدور شو اود هغې نه وروسته له یوه نقاش سره نوکر شو په دې ډول یې دلته او هلته مزدوري او خپله ګذاره کوله . بیا په یوه (بندري ټیکلن) کې د کټندي په توګه په کار بوخت شو په دې ټوله موده کې ګورکي له یوې خوا کار کاوه او ډوډۍ یې پیداکوله او له بلې خوایې مطالعه کوله له خلکو سره یې تماس درلوده ، دهغو په ژوند کې یې نفوذ کاوه هغو څخه یې زده کړه کوله .

ګورکي په خپله افتوګرافي کې خپل ځان ژوند او هغه څه چې له وړکتوبه د لیکوال تر نبوغ پورې په ده باندې تیر شوي او زغملي یایې زده کړي دي هغه یې په خپل قلم ډېر ښه تفسیر کړی او ښودلی دی چې دغه افتوګرافي درې برخې لري او دګورکي پیژندنې دڅیړنې او دتحقیق له پاره ډېر کره او ښه مأخذ دي دغه اثر په دریو برخو ویشل شوي دي چې بیل بیل عنوانونه یې دادي ((زما وړکتوب)) په دې برخه کې ماکسیم ګورکي هغه حالات ترسیم او بیان کړي دي چې په وړکتوب کې په ده باندې تیر شوي دي ، دوهمه برخه یې (زما پوهنتونونه) نومیږي .دریمه برخه یې ((دخلکو په منځ کې) نومیږي چې د ګورکي د ژوندانه دپیژندنې او هغې لارې دروښانه کولو له پاره چې ده طی کړي او پرې دنبوغ مرحلې ته رسېدلی دی ډېر ښه مأخذ کېدای شي. ددې له پاره چې ګورکي لاښه وپیژنو اود ده دفکري نبوغ تکاملي سیر دشخصیت بشپړ توب فلسفي نظر او اجتماعي دریځ ښه جوت شي نو به ګورکي د ده دجاویدانو اثارو دڅیړنې په رڼاکې معرفي کړو.(1)

دګوورکي لومړی داستان د ( مکاراچودرا) په نامه په (1892) کال خپور شو او دګورکي دریځ یې دلیکوال په حیث تثبیت کړ . بیا په (1898) کال کې د ګورکي د اثارو بله دوه ټولیزه مجموعه چې داهم د داستانونو مجموعه وه ده ته یې زیات شهرت وروباښه دګورکي دځوانۍ د دورې په اثارو کې په ژوندانه کې د قهرمانۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لټون زياته تلوسه ليدله کيږي او دغه موضوع يې د ژوندانه ددغې دورې د اثارو خاصيت ټاکي دلته دده ايديال دلارې چې داسې قهرمان جوړ کړي چې دنورو په وړاندې دقهرمانۍ او ځان جارولو بشپړ جرءت او قابليت ولري چې دغه تلوسه يې دخپلو داسې اثارو په قهرمانانوکې ځلولي ده . لکه : دانګود (بوډې ګيزال) داستان ګوربت د (کرويت په باب سندرې) په داستان کې دانسان د(انسان په باب مثنوي) کې .په دې توګه ګورکي په انسان او دهغه په استعداد باندې چې ترټولوښه ژوند په جوړولو قادر وي بشپړ باور لري چې په دې کې دګورکي انسان دوستۍ (هيومانيزم) هم ښه ځرګنده ده لکه چې وايي: (کله چې انسان له کارنامو او سترو کارونو سره مينه لري، دی کولای شي چې هغه تل ترسره کړي او کولی شي چې دهغو ترسره کولو ځای او موقع هم ومومي په ژوندانه کې دکارنامو او سترو کارونو ترسره کولو له پاره ځای شته و هغه ځوک چې دځان له پاره هغه نه شي موندلی هغه يا تنبل دي او يا ډارن او يا هم ژوند او دهغه ماهيت نه پيژني ) دغه شعار چې دګورکي د داستان د قهرمان يعنې دانکوه په ژبه بيان شوي دي په دغو کارونو کې د روسيې انقلابي ځوانانو په ژبه تل دشعار په توګه جاري و.

په دغو کلونوکې دخپلو داستانونو دهنري او قهرمانه تمثالونو دجوړولو په وخت کې تل د روسيې دهغه وخت او دژوندانه واقيعتونو ته پام لاره او له هغو څخه يې دخپل هنري تمثال دجوړولو سوژه او عناصر را اخيستل او دخلکو له منځه يې هغه څېرې ترسيمولې د کومو ژوند چې په ډېره سختۍ سره تېرېده .

تزاري دولت دی د پتروپاوتوفيک په جيل کې بندي کړ چې دې کار دنويوالو هيجاني ولولې وپارولې او دتزاري حکومت په ادرس دنړيوالو د پروتست (انتقادي) ليکونه جاري شول چې په هغو کې د ګورکي دبنديتوب په نسبت په تزاري حکومت باندې سخت پروتستونه شوي و. ددغه فشار په اساس تزاري حکومت مجبورشو چې ګورکي خوشې کړي .

کله چې کورکي خپل مشهور رومان ((دمور په نامه)) وليکه ليکوال اندريف وليکل : ((ګورکي يوه ستره ادبي کارنامه ترسره کړه ګورکي په خپلو اثارو کې نه يوازې بحرانونه او طوفانونه وپارول بلکې بحرانونه او طوفانونه يې په ځان پسې راښکل )). ګورکي دمور په رومان کې چې (1906) کال کې يې وليکه د رومان داصلي قهرمان پاول ولاسوف په تاريخچه کې دهغه په څېره کې په استادانه هنري قوت دانقلابي مبارزې په جريان کې دکرکتر يا شخصيت د روزنې او تکامل پروسه ترسيم کړه انقلابي جريان دپاول ولاسوف منکشفکري چې دا د يوه پرولتر دوران جوړونکی مبارز دقوي ارادې خاوند زړور او سرښندونکی شخصيت تمثال دی . همدارنګه ګورکي و چې په ادبياتو کې يې دلومړي ځل له پاره دانقلابي کارګر څيره ديو قهرمان شخصيت په توګه ترسيم کړه دکوم ژوند چې دنورو له پاره سرمشق دی دمور په رومان کې ګورکي دپاول ولاسوف دمور څيره ديوې انقلابي ښځې شخصيت هم ځلولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(1) افتو ګرافي : دغه اصطلاح د يوې مرکبې يوناني کلمې څخه اخيستل شوې ده چې درې جزه لري : (افتوس خپل - بيوس ژوند – ګرافو ليکم) يعنې په خپله دخپل ژوند دحالاتو ليکونه افتو بيوګرافي بولي .

په دې ماکسيم ګورکي دخپل هنري او ادبي فعاليت په رڼا کې نوی ادب او نوی هنري مکتب او ميتود منځ ته راوړ چې دا دنوې ټولنې ادبي ميتود يعنې دسوسياليستې ټولنې ادب او دسوسياليستې او اجتماعي رياليزم ميتود وه ګورکي دشوروي اتحاد او نړۍ دنوي ادب او دسوسياليستې رياليزم مؤسس باله شي.

ګورکي دپرولتري ادبياتو اجتماعي رياليزم د مکتب بنسټ ايښودونکی دی ګورکي دنولسمې او شلمې پيړۍ په ترڅ کې دمخکښنو ادبياتو دټولو ښو عنعنو د ادامه ورکوونکی اوقانوني نماينده په څير اوله هغې جملې څخه د روسيې دنولسمې پيړۍ دانتقادي ريليزم څخه راووت. سربېره پردې ده دروسيې د کلاسيکو ادبياتو خلقي توب دهغه دانسان پاللو او حقيقت ليکلو روحيه په ژوره توګه زده کړه . داجتماعي ادبياتو په ورشوکې ديوستر مبتکر په شان راڅرګند شو.

دی کارګري ليکوال دې ته کومارلی دی چې دنويو انسانانو دهنري تجسم له پاره چې دنوي ژوند بنسټ ايښودونکی دی هڅه او هاند وکړي ، ګورکي (دپرولتري ليکوالو دمجموعې) په سريزه کې ليکلي دي چې:

((زه باور لرم چې پرولتاريا لکه څرګند چې يې په سختيو او قربانيو دخپلې ورځپاڼې بنسټ کېښود همدارنګه په خپل بديعي ادبيات هم منځ ته راوړي )).

ګورکي له انقلاب څخه پخوا دخپلې زماني دادبي دموکراتيک غورځنګ ديوسازمان ورکونکي په توګه شهرت وموند او دپرولتري ادبياتو دځوانانو قوتونو مشر شو. دشوروي اتحاد دغه سترليکوال او دنړۍ دنوي ادب اودسوسياليستې رياليزم مؤسس د اوږدې ناروغۍ په وجه د(63) کالو په عمر په (1936) کال کې مړ شو . اوس د ګورکي کور ديو موزيم په توګه دخلکو د ننداري له پاره پرانيستې دي . ګورکي دشوروي اتحاد دليکوالو د اتحاد يې چې په (1915) زيږديز کال کې جوړه شوه مؤسس يې هم دی او ددغې اتحاديې لومړۍ نمبر کارت دده په برخه شوی دی. ده ډير ليکوا ل روزلي او د ده مکتب دنوي ادب په لويه مدرسه بدل شوی دی .

## د ګورکي مهم تيورتيکي اثار

دهنر او ادبياتو په هکله د ګورکی زښتې ډيرې مقالې چې لارښوونکي خصوصيتونه او دهېواد دسياسي او اقتصادي ژوند په بېلابېلو پړاوونو پورې تړنګې اړيکې لري خپرې شوې. (( دپرولتري ليکوال په باره کې)) ((دشوروي خلکو ادبي اجادات))، ((ماڅرنګه ليکل زده کړه))،((کارګر طبقه بايد دخپل مدنيت استادان وروزي))، ((ځوان ادبيات او دهغوی وظيفې))، ((داجتماعي مترقي ريليزم په باب))، (( دژبې په باره کې))، (( شوروي ادبيات))، ((دشوروي ليکوال په عمومي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړنی کانګرس کې بیانیه ،1934کال داګست 17 نېټه))، ((دنوي انسان په هکله))، اوداسې نور دماکسیم ګورکي هم تیورتیکي اثار دي.

## دګورکي رومانتیکي او ریالیستي اثار

د ګورکي لومړني اثار ((ماکارچودره)) (1892)، ((ایمبلن پیلیه)) (1892)، ((چلکاش)) (1895)، بودي ایزوګیل (1895)، (( کرناوالون)) (1897) او نور د مؤلف دسرګذستونوپه اساس لیکل شوي دي . ګورکي دخپلو لومړنیو ایجادي قدمونو څخه دانقلابي رومانیزم پّ اصولو دانسان د زړورتوب او نجابت مفکوره دخپلو خلکو له پاره دخدمت کولو صادقانه مفکوره پر مخ بیایي.

((دشاهین سرود)) کې ګورکي د خوځیدونکو مارانو اشرافو او دکودتاه اندیشه او دشخصي مادو دپلویانو دعقیدو په خلاف چې دخپلو ځمکې لاندې کورونو څخه خوښ و او هر ډول انقلابي جوش او خروش یې بې اعقلي ګڼي بې باکانه مبارزې ته رابولي.

(( دتوپان مارغه)) کې ګورکي دانقلاب دتوپان رانږدې کېدل اټکل کړیدي پخپله یې په دې اثر سره لکه د پرولتاري انقلاب زوړ جار چې دخلکو دپراخو پرګنو زړونو ته لاره وموندله .

دګورکي دالمړني اثار سره له دې چې د ژوندپه حقایقو باندې تکیه لري په رومانتیکي شکل اواصولو لیکل شوي دي. ګورکي د ژوند او اجتماعي مبارزې دقوانینو دژورې زده کړې په ویاړ د کرار کرار دخپلو ریلیستي اثارو لیکلو ته مخه کوي . دماکسیم ګورکي دحقیقت له مخې لیکل شوې ډرامې او رومانونه ((دښمنان))،((په عمق کې)) ،((اشراف)) ،((اوړي)) ، ((فورموکوردیف))، ((مور)) او نور دي عموماً ریالیستي او یاد روسي انتقادي ریالیزم دکلاسیکانو سره هیڅ ورته والی نه لري .

دادمدنیت ، هنر اود ادبیاتوپه تاریخ کې یونوی باب و چې دانتقادي ریالیزم او انقلابي رومانتیزم دتولو ښو خصوصیاتونو څخه ترکیب شوي دي په دې اثارو کې دژوند دحقیقت په وړاندې دکارګر او بزګر دطبقې په عمل کې اجرا کیدونکي هڅلو په ماهرانه انعکاس موندلی دی.

د((اشراف)) په ډرامه کې نیل انقلابي کارګران د ((دښمنان))په ډرامه کې او ((په عمق کې)) ډرامه ساتین دانسان او ژوند په هکله باور ښونکي اندېښنې څرګندې کړي دي او دښې او ځلاندې راتلونکې له پاره په مبارزه کې دقوي روح ښتنان دي .

دساتین اعقاد په ریالیستي توګه دده په مونولوګ کې لیدل کیږي .

دی وایي: انسان دادی حقیقت، انسان ازاد دی، انسان پرتمین دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا په ویاړ سره غږ کوي د انسان درناوی لازم دی . ده ته دي، عاجز او ناتوان انسان په څهره نه شفقت کتل او سپکول ټیک نه دي ، درناوی یې لازم دی په دې جزونو کې نه یوازې باور بلکې دانسان دآزادۍ له پاره مبارزې ته دبلنې غږ اوربدل کیږي.

په همدې ډول ګورکي درومانتیکي انځور دبلند پرازۍ څخه کرار کرار خپل پام د شلمې پیړۍ دپیل د اړپیچونو څخه د ډک ژوند تل ته اړولی او رښتینې پیښې ترسیموي.

دګورکي ریالیزم او حقیقت لیکنه په تېره بیا دده په بې زواله رومان ((مور)) کې دخپل کمال اوج ته رسېدلی دی . ددې اثر مثبتو اتلانو دمیلینو انسانانو په شعور باندې کارګري طبقي داخلاقو ایدیالوژي په رڼا کې د ایدیالي مبارزینو او اوهاندیانو په څیر اغیزه کړې او کوي یې د((مور)) رومان د دووو اصولو او دوو میتودونو یعنې ریالیزم او انقلابي رومانتیزم له ګډون څخه هست شوي دي .

ګورکي د ((مور)) په رومان کې په اساس ډول د بلشویک دګوندپه لارښوونه سیاسي باشعوري مبارزې په نوي پړاو کې د روس دپرولتریا کې اېښودل منعکس کړي دي دانقلابي کارګرانو او زړورو مبارزانو څیرې چې د ظالمانو پر ضد راپاڅیدلي دي – د رومان په منځ کې ځای لري .

ګورکي اقتصادي مبارزه دکارګرانو محفل تشکیل دانقلابي پاڼو خپرول مظاهرې په کلیو کې انقلابي تبلیغات دبادشاهي عسکرو سره د اخ او ډب په څېر د خاصو شېبو انقلابي فعالیت دده په انځور کې انځوریږي.

## دماکسیم ګورکي دایجاداتو اهمیت

دګورکي دقدر وړ خدمتونه یوازې دا نه دي چې دی لومړنی سړی و چې دانقلابي کاریګر څهره یې دنوې نړۍ هستونکي په څیره ادبیاتو کې رامنځ ته کړې ده . ګورکي توانیدلی دی چې ددې قهرمان په سترګو دژوندانه ټولو اړخونو ته وګوري هغوی ته دمترقي اندیښنو په اساس اهمیت ورکړی او دژوند دپیښود ټیک کولونه وي پرنسیپونه په ادبیاتو کې جاري کړي. ګورکي په خپلو اثارو کې ددې نمونه شو چې مخکې لیکوال باید څه ډول دژوندانه تل ته ننوځي او په ژوره پوهه او ښوونه سره دستم او بې عداتۍ ټول سیستم رسوا کړي او استثماري جوړښت پر ضد په انقلابي مبارزه کې څرنګه فعالانه ګډون وکړي، ګورکي په خپلو جاویدانه اثارو کې یو لړ په زړه پورې څهرې او کرکترونه هست کړي دي چې لوستونکي په هغوی د ژوند ریښتینې او روښانه منظرې احساسوي.

دګورکي ذکاوتمندانه اثار او په تیره بیا دده د((مور)) رومان پخوانی روسیه کې د ازادۍ له لارې دانقلابي مبارزې مکتب ګرزېدلی دی. دنیلوفنا د کرکتر د مترقي تاریخ انقلاب ته دروس دکارګرانو مخه کول څرګندوي. دانقلاب دستر لارښود

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرې : ((ډېرو کارګرانوپه انقلابي یون کې لاشعورانه په خپل سوي توګه ګډون کولو او اوس هغوی ((مور)) دسترې ګټې سره لولي .
دهمدې شببې پورې اړه لري. دسترګورکي نوماندتوب په ټوله نړۍ کې ژر خپورشو. دده اثار دنړۍ دبېلابېلو هېوادو په ژبو ژباړل شوي. د نوي نیم کال له پیل څخه په پاریس – لندن ـ ستا کهلم او نورو باندینیو ښارونو کې دګورکي په باب سل ګونه مقالې او کتابونه چاپ شوي دي ګورکي دبېلابېلو اولسونو د ادبیاتو په نماینده ګانو باندې ستره اغیزه لري . دنړۍ زیات مخکې لیکوال دفرانسې دانقلابي لیکوال ((هندري باربوس)) د ګورکي په هکله دا وینا په ویاړ سره تکراروي چې وایي: (( ګورکي زموږ په زمانه کې یو ستر مشال دی چې ټوله نړۍ رڼا کوي)).

# دستر لیکوال پوشکین لنډه پیژندنه

بشپړ نوم یې الکسا ندرسرګیویچ پوشکین دی او په 19پېړۍ کې دروسې نامتو شاعرانو څخه شمېرل شوې دی .
دغه سترلیکوال په (1799) عیسوي کال دجون په اوومه نېټه په ماسکو کې زېږېدلې دی .اوپه (1837) عیسوي کال دفبرورۍ په لسمه وفات شوی دی .
پوشکین زدکړې له تمامولو وروسته په کال (1816) دخارجه چاروپه وزارت کې په یوه پوست کې مقررشو او په همدې کال د ده رزمي خیال اثردخپلواکې دقصدي په نامه په سنت پند زبورک یې لاس په لاس ګرځید . تردې ړومبی داسې ښکاریده چې پوشکین به شاعر نه شي خوکله چې څه موده وروسته دروسې جنوبي سیموته وشړل شواوبیا په (1820)کال کې یې دمعدني اوبو په وسیله خپله روغتیا تأمین کړي په دې وخت کې نوموړي جنرال دی د لاربارین له اشعارو سره اشناکړ اوهم دقفقاز زړه وړونکواوباعظمتومنظرو دده هیجانات راوپارولود ده شعري استعدادونه هم سره راوخوځېدل او په (1822)کال کې یې د((قفقازبندي))ولیکل اوپه (1823)کال کې یې د((سرای دباغچې فواره )) ولیکله چې نن دبالتوي تیاتر دډېرو مشهورو بالتو نوڅخه شمیرل کیږي .
له دې وروسته یې خپل اثارپه یو بل پسې تالیف کړل .څه موده په اودلیه کې اوسیده خو هلته هم د کاره ویستل شو او څه مو ده یې په ډېر تکلیف تیر کړه مګر ددې کړاوجنې مودې په وخت کې دروسې دلرغونوملي شعرونوپه مطالعه بوخت و اودبایرون او اندرشینه ترتاثیر لاندې تللې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوشکین په خپل تراژیدي اثر کې چې په (1825) کال یې د(بوریس ګودونوت )په نامه لیکلې دی اودشکسپیر لیک یې تعقیب کړې دی له (1820) وروسته د امپرطور نیکولای منا سبا ت له پوشکین سره ښه شو اودی بیرته ماسکو ته راغې او وښنل شو .
په (1831)کال کې پوشکین واده وکړ اودوه کاله وروسته بیرته دخارجه چارو په وزارت کې مقررشو په دی وخت کې یې (1773) کال د برلوګاچف دانقلا بي تاریخ او دکپتان د لور نقل ولیکل .
پوشکین منظوم داستانونه له ډرامو څخه ډک دي . دده غنایې منظومې دروسې ژبې ډیر نفیس او ښکلي ادبي پارچې دي .
پوشکین دنکلونو په لیکلو کې دروسې دهغو لوړو لیکوالو څخه دی چې د (1830) کال راپه دې خوا یې اثار خپاره شوي دي .
پوشکین هر ډول شعرونه لکه لیریک (غنایې ) با لا(قصیده )حکایت درام منظومې لیکلي دي . دادبي فنکارانو په عقیده پوشکین دخپلې ژبې د بډای او قوت خیال درلوده او په ډیر جرءت سره یې دخپلې ژبې روسي په نظم کې شګونه راپیدا کړل اوپه خپلو لیکنوکې به یې ابتکار کاوه . دخپل هیواد له فولکلور څخه یې په نوي ډول ګټه اخیستله . دده د(هوشیاراوکک ) کب نیونکي او کب اثرونه دهغو منظوموداستا نو څخه دي چې بنسټ یې په روسي فولکلوري نکلونو ولاړ او شروع کیږي . دمو سا رت او سالیرې په نا مه خپل منظوم ډرا مه کې یوه موضوع په اروپا کې دهنر له تاریخ څخه رااخلي او د داستان په توګه یې لیکي .
پوشکین دهنر عاشق او د(بشر دوست دی) ده دخپلو لیکنو هم اهنګي له زړونو سره لیدله . پوشکین دخپل داستان دهیرو (ووزارت ) داطریش نامتو اهنګ جوړونکې په وجودکې یو بل ډول نبوع ویني او هغه دمو سیقی رب النوع بولي پوشکین بشراو دهغه وجودپه ډیرارزښت ورکوي چې دبشرپه قتل لاس وهي دده له خوا په یو وجداني عذ اب محکومیږي او دژوندانه له ټولو لذ تونو څخه یې محروموي دبشرخواهې احساسات تر هرشي لوړ بولي .

## دده دشاعری مقام

پوشکین دخپل ملت په سترګوکې له دې کبله ډیر لوی ارزښت او دګران شاعر مقام لري چې د اوس ادبي مؤسس او دروس د نویو ادبیاتو حقیقي مؤجد دی. پوشکین په داسې زمانه کې دنیا ته راغی چې روسي ادبیاتو داوس په شان انکشاف نه ؤ کړی او خلکو دا قدرت نه درلود چې شاعر په تحقیقي ارزښت پوهیږي او دشاعر دخبرو په شکل او ادبي ارزښت جز شي مګر وروسته کله چې دروس په ملت کې ځینې اجتماعي بدلونونه راغلل خلک دده په هېرشوي او انقلابي پټ ارزښت وپوهیدل او پوشکین د یو ملي شاعر په حیث ومنل شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دادبیاتو په عقیده روسي ژبې ته پوشکین خدمت - انګلیسي ژبې ته دشکسپیر خدمت او پښتو ژبې ته د خوشحال خان خدمت زیات دی .

کونت لیونکولایچ تولستوی د شوروي اتحاد نومیالی لیکوال فیلسوف او اجتماعي مصلح و چې په (1828) کال دتولاایالت دباستایاناالیانه پّ محله کښې زیږیدلی دی . ده په اتلس کلنی کې دمطالعې سره ډیره مینه پیداکړه او دولتر او وروسود وه فرانسوي لیکوالانو اثار یې مطالعه کول .

اګر چې نوموړی ي، مذهبي سړی و لاکن په نولس کلنی کې له کلیسا نه ووت او دممسیحت سره بې علاقې شو- تولستوی ددې له پاره چې په پلرني ځای کې له بزګرو سره کومک وکړي په (1847) عیسوي کال له پوهنځي څخه ووت او په (1851) کال کې د روسیې اردو ته ورګډ شو او په (1855) کال سیواستوپول دښار په دفاع کې شامل شو. تړلستوی په دې دوره کې ځینې کتابونه چې یو شمېر یې دده دخپلو حالاتو په شرح کې دي او حینې یې فلسفي جنبه لري تألیف کړل او هم یې څو داستانونه دسیواستوپول د جګړو په باب لیکلي دي. څرنګه چې دغو داستانونو ددغو جګړو واقعي نظري په ښه توګه ښکارولی ډیر ژر دده دشهرت سبب شول . په (1857) کال دتولستوی له عسکري خدمت څخه استعفی وکړه او داروپا مختلفو ملکوته یې سفر وکړ. مګر د لویدیځ دپیسوپرستۍ دتمدن له لیدلو څخه ډیر متأثره شو او کله چې بیرته هیوادته ستون شونویې په پاسنایاپولیانا کې په خپلو املاکو باندې اقامت اختیار کړ او ي، ښوونځی یې دبزګرو د زامنو د روزنې له پاره تأسیس کړ. تولستوی پّ (1862) کال کې واده وکړ او په (1866) کال کې یې خپل لومړنی ډیر ستر او ډیر لوی رومان ((جګړه او سوله)) ولیکه چې پّ نولسمه پیړۍ کې د روسیې دتاریخ او اجتماعي اصولو په هکله پراخه شرخه لري. بل ډیر ستر رومان یې ((داناري ینیا)) په نامه د((1875)) او ((1877)) کالونو ترمنځ خپ،ر شو. دهغه نه وروسته تولستوی چې ورځ په ورځ د مذهب خواته جلبېدو دانجیل په مطالعه پیل وکړ او دمسیح په دین کې یې یو نوی تعبیر ایجاد کړ چې اساس یې دتشدد له لارې مقابله نه کول ؤ او دده دغې عقیدې دهنردشلمې پیړۍ مشر مهاتماګاندهي د عدم تشدد په یولړ فلسفي او مذهبي کتابو او رسالو کې خپره کړه او دې ته یې هم ملا وتړله چې ټوله دنیا یې هستي او ثروت خلکوته پریږدي او په خپله دیو بزګر غوندې ژوند وکړي مګر دده ښځه په دې کار راضي نه شوه نودی یې مجبوور کړ چې ټ،له شتمني دې ته تملیک کړي له دې کاره وروسته تولستوی دتجرد او انزوا په پلټنه پسې چې دده اخرنی مقصد و ولاړ او د اورګاډي په ي،ه کوجني تم ځای کې د ((تتر)) په ناروغی په (1910) کال کې مړ شو.

تولستوی د ژوندانه لومړي پړاوونه یې په ي،ه تیاره محیط کې دیوه دیوالي شوي ملاک په کور کې تیرشوي دي چې د دغه وخت او محیط تیاره او ناوړه شرایط او حالات ده وروسته په خپلو داسې اثارو کې ،لکه: (میتوکانالوف)، (احمقان)،(ګوډزمیدار) اونورو کې چې له (1909) تر (1912) کال پورې یې لیکلی او انځور کړی دی . تویستوی په لومړي سرکې ونه وشوکولی چې دالتوبر دستر

(c) ketabton.com: The Digital Library

انقلاب په ماهیت پوه شي هغه و چې له هېواده وتښتیده او خارج ته لاړ چې وروسته بیا ددغه مهاجر ژوندانه په باب خپل احساس په خپله بیوګرافي کې داسې څرګندوي . له هېوادنه لرې په هجرت کې ژوند کول زما دژوندانه ترټولو ترخه او ستونزو ډکه دوره ده او هلته زه پوه شوم چې له هېواده لرې اوسېدل په داسې حال چې نړۍ دهیچاله پاره نږدې او ضروري نه وي هیڅوک یې نه پیژني او دملک او خپلو خلکو په ګټه هیڅ نه شي کولی څه مانا لري او څومره تریخ ژوند دی .))

دلته و چې دوطن او دهغه کشش دلیکوال په زړه کې دخپګان او پښېماني طوفانونه وپارول ده ته یې دخپل هېواد ښکلی طبیعت- خپل وړکتوب - خپل پلارنی ټاټوبی د یوې داسې معشوقې په حېث وځلاوه چې په هغې یې ژوند کول ناشونی ؤ. خپل دغه احساس پّ خپل ي،ه داستان کې چې ((دنیکتیا ماشوب توب)) نومیږي انځور کړ .

په (1923) کال کې دی بېرته خپل هېواد ته راستون شو او ویې لیکل :

((زه دځمکې په مخ دنوي ژوندانه دجوړلو ګډون کوونکی شوم زه دزمانې مکلفیتونه او هدفونه زه وینم په دې وخت کې یې دشوروي هستی او عینیت په باب داستان او یو فانتازي رومان ولیکه چې ((انخیز ګارین)) نومیږي . همدارنګه په ((کړاوونوکې ګرځېدلی)) نومې داستان او ((لومړي پتر)) نومې رومان دده د دغه وخت تخلیقونه دي . تولستوی په خپلو اثارو کې دخپل هېواد دماضي نا انډوله او خلکو له پاره له ستونزو ډک او معاصر په مانا په سوسیالیستي عادلانه ټ،لنه کې دخلکو او زیار اېستونکو نیکمرغه ژوند دیو فنکار لیکوال په حیث انځور کړي دي چې دده اثار د ډېرې مودې له پاره د ژوند په حیث نمانځل کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شولوخوف

هغه ليکوال چې دخپلو قهرمانو انساني احساسات په ښه توګه منعکسوي زموږ د زمانې دستر ليکوال ميخايل الساندرو ويچ شولوخوف نوم دشوروي ادبياتو د شلمې پيړۍ د ادبياتو د مخکې دنن ورځې د اجتماعي رياليزم د ادبياتو دسرغندوي پّ ځير تې،له متمدنه نړۍ کې څرګند او مشهور دي دده اثار او په تيره بيا ستر تاريخي د انسان ((ارام درن)) او ((کرل شوې ځمکې)) رومان دنړۍ د ژونديو ادبياتو دګنجينې په اثارو داخل شوي دي . او دنړۍ دادبي پرمختګونو په بهير کې يې يوه بشپړه دوره اومرحله تشکيل کړې ده ، دده هستونې نه يوازې د نن له پاره بلکې دسبا له پاره او دانسانيت د راتلونکو نسلونو له پاره او مثبت نقش او تأثير لري .

ميخايل الکساندرويچ شولوخوف د (1905 زيږديز) کال د (مى) په يوولسمه نيټه د رستوف د ولايت دوينسکي په اوستن وادي کې زيږېدلی دی ، دده پلار او مور بې وزله دهقانان وو.

شولوخوف لومړی په کليسا پورې په يوه تړلې مربوطې ښوونځې کې په زده کړه پيل وکړ او بيا په منځنې ښوونځی کې داخل شو مګر ده منځنی ښوونځی پای ته ونه شو رسولای ځکه په دې منځ کې کورنۍ جګړه پيل شوه اود څوارلسو ،پنځه لسو کلونو ځوان هلک ؤ چې جنګ ته ولاړ. ده دشوروي واک دساتونکو په صف کې ددوی د کورنۍ جګړې په ميدانونو کې ګډون وکړ. دژوند داکلونه او تجربې د راتلونکي ليکوالي له پاره ستر درسونه او دنوي نړۍ ليد سبقونه شول .

په (1922 زيږديز) کال کې شولوخوف مسکو ته لاړ او په دې ځای کې يې کله دبارچلولو دکارګر کله دمزدورو او وروسته دکارخانو او فابريکو د مامو په صفت خدمت وکړ. په دې حال کې ده دادبياتو سره زښته زياته مينه پيدا کړه اود ميني او علاقې دي د((ځوان تادر)) ادبي مخعلونو ته چې مسکو کې د ادب ځوان مينان سره راټولول – راکش کړل –او دچاخبره شولوخوف له همدې وخته خپل ټول ژوند او فعاليت په دې لار کې په کار واچاوه .

د (1923) او (1924) کلونو په ترڅ کې د(يونوشيکا يا پراودا) په ورځپانه کې د شولوخوف طنزي – انتقادي – فکاهي مقاې د (امتحان) (اېس) (رريونيرور) او په نورو نومونو چاپيږي .

په دې ځای کې په کوچنيو ادبي پارچو کې دشولوخوف ځوان استعداد او قابليت په ښه توګه ځليږي. د (1924) کال د ډسمبر په مياشت کې دهمدې ورځپانې په مختلفو کې دشولوخوف لومړنۍ کيسه د (خال) تر عنوان لاندې خپليږي. په همدې کيسه کې دشولوخوف دليکوالی دستر استعداد لومړنۍ شګوفې لکه روښانه تصويرونه دځيرو او کرکترونو جوړول او نور ځان روښانه کوي .

شولوخوف وروسته له دې ښخې په ايجادي کارونو مشغوليږي او د (کا سوموليا) (پروژکتور) ((سينا)) او (اګونيک د ورځپانو)) او مجلو په مخنو کې دده په زړه پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کيسې او داستانونه چاپيږي دا کيسې په اساسي توګه دانقلاب په درشل او کورنيو جګړو کې د دون د قزاخانو ژوند او مبارزې ته وقف شوي دي ، دده دکيسو او نکلونو ډېر قهرمانان او پرسوناژونه حتى د دوی له نومونو سره لکه ګريګوري ـ کارشونوف ـ او نور وروسته دده د (ارام دون) په رومان کې داخل شول او ددوی د فعاليت او هڅو ميدان لا په ډېره پراخه او هر اړخيزه توګه انځور شوه دا داستانونه او کيسې چې وروسته د ( دون دکيسو) او لاجوردي دښتې په مجموعې کې راټ،ل شوي ډېر ژر دبديعي انځور مهارت او انځورشويو پرابلمونو ته دلوستونکو پام راواړوه .

شوروي نامتو او سپين ږيري ليکوال سرافيموويچ چې د دون کيسې د (1926) کال په مجوعې باندې سريزه ليکلې وه دشولوخوف دليکوالي استعداد ته ډېر ارزښت ورکړی و او ليکلي يې وو:((دا رنګه ژبه – داسې ښکلې او په زړه پورې ژبه چې قزاقان پرې ګړيږي او دژبې د لنډ بيان د ژوند له نقش – داحساساتوله شدت او حقيقت څخه ډک دي ...))

ليکوال ځيرک او پراخ نظر لري دی دارنګه قابليت او استعداد لري چې دژوند له بېلابېلو پديدو څخه ډېر حساس شيان غوره کولای شي .

په (1924 زيږديز) کال ميخايل الکساندروويچ خپل خاپوړې يعنې د دون غاړو ته د ويشنايا کلي ته راستون شو او په دې ځای کې دايمي هستوګنه غوره کړه . دده ټول ژوند او فعاليت له همدې وخته راهيسې د دون په ښکلي او ارام ښنونکي ځمکې پورې اړه لري . په دې کې شک نه شته چې دخلکو او د دوی له مبارزو او ښکلاوو څخه ډک ژوند او د دوی په نوي ژوندانه کې دايمي او ورځنی ګډون د ليکوال الهام ته نوې وزرې ورکړي ، دده فوق العاده استعداد يې نور هم پسې وغوړاوه . دون ته له رارسېدو وروسته شولوخوف په (1928) کال کې خپور شو .

د (ارام دون) د لومړۍ برخې خبريدل د شوروي هېواد په ادبي ژوند کې د سترې پيښې په حيث وګڼل شوه . له (اوسپنيز سيلاب) (چپايف) او تسل نس) څخه وروسته دې اثرد نوې دورې ستر اجتماعي او سياسي پيښط په پراخه او حماشهي توګه انځورولی چې په دې ترتيب سره د سترو پرولتاري ادبياتو په ډله کې بيا يو زبردست ليکوال (ميخايل شولوخوف) شامل شو.

په (1929 زيږديز) کال کې شولوخوف د (ارام دون ) د رومان دوهمه برخه پای ته ورسوله او خپره يې کړه، اما ده داضرورت په ښه توګه درک کړ چې هغه سترې سياسي او اجتماعي پيښې چې ده په خپلو سترګو ليدلي بايد په نوي توګه انځور شي، له دې ځايه ده چې ده ددې رومان د پای ته رسولو کارته توقف ورکړ او دکرلې شوې ځمکې د رومان په ليکلو يې پيل وکړ په همدې ترتيب په (1932 زيږديز) کال کې ((دکرل شوې ځمکې د رومان )) لومړی برخه له چاپ څخه راووتله په هغو کلونو کې ددې رومان خپريدو ستر ادبي سياسي او تربيوي اهميت درلود .

(c) ketabton.com: The Digital Library

شولوخوف د کليو د خلکو د راويښېدلو نوې دوره او سوسياليستي جوړښت لوري ته د دهقاني سترو پرګنو هڅول د دون د غاړو د دښتو د کليو دژوندانه او کاروبار په ځيره کې رنځور کړل .
په هغه کلونو کې چې دکرل شوې ځمکې رومان تأليف او خپور شو د زراعتي اقتصادي داشتراکي کولو جريان دهغه له ټولو اختلافاتو او ستونزو له سختې طبقاتي مبارزې سره يوځای په ټول شوروي هيواد کې دوام درلود په خپله ليکوال هم په دې ستر کار کې په فعالانه ډول ګډون کاوه . دده رومان د پراخودهقاني پرګنواودګوندي تشکيلاتو په فعالانه کار او زراعتي اقتصاد په اشتراکي کولو سره سياسي او اجتماعي مؤسسه وه .
د (کرل شوې ځمکې ) دلومړی برخې له خپريدو وروسته شولوخوف په (1932 زيږديز) کال کې د ( رام دون) دريمه برخه بشپړه او خپره کړه . ددې رومان څلورم کتاب اودهغه وروسته برخه په (1940 زيږديز) کال کې له چاپه راووته. په همدې توګه شولوخوف د څوارلسو کالو په موده کې دخپلو نامتو کارو په جريان کې د ارام دون ستر تاريخي داستان او د کرل شوي ځمکې دمشهور رومان لومړی برخه پای ته ورسوله . دې دواړو رومانونو دشوروي ادبياتو په ګنجينه کې د غوره کارونو په شان لوړ ځای وګاټه د يو وتلي ليکوال هنرمند په ځيردشولوخوف نوم نه يوازې په شوروي اتحاد کې بلکې له هغو څخه بهر هم نه فنا کيدونکی شهرت ترلاسه کړ .
په (1939 زيږديز) کال کې شولوخوف د شوروي جمهوريتونو داتحاد دعلومو اکاډمی په غړيتوب ومنل شو .
په (1941 زيږديز) کال کې ده د (ارام دون ) د څلور ټوکيز رومان له کبله دولتي جايزه ترلاسه کړه په نولس سوه څلويښتم او نولس سوه يوڅلويښتم کلونو کې شولوخوف د (کرل شوې ځمکې) د رومان د دوهمې برخې په ليکلو مشغول و اما په دې ترڅ کې ستره وطني جګړه پيل کيږي او دکرل شوې ځمکې په رومان باندې دده کار قطع کيږي . د جګړې په دوهمه ورځ شولوخوف شوروي اتحاد مدافعوي کميسار په عنوان يو ټېليګرام استوي او څرګندوي چې دی داحتياطي لؤا دغنډ د کميسار په څير تيار دی چې دهيواد څخه د دفاع له پاره د شوروي اردو په صف کې ودريږي. په دې ترتيب سره شولوخوف ته د (پرادا) د ورځپاڼې دخبريال وظيفه ورسپارل کيږي .
دښمن د شوروي هېواد خاوره ترپښو لاندې کوله . په جګړه کې دشولوخوف استوګنځی او کور هم د دښمن تر يرغلبې لاندې راغی ، دده مور د بم د چاودنې په اثر مړه شوه شولوخوف دا جنګيالی ليکوال د ټينګې ارادې څښتن او ثابت قدم شخصيت وار خطا نه شو بلکې په خپلو فعاليتونو په خپل قلم په خپلو اورجنو بيانيوسره يې د شوروي خاورې او دانسانيت دپامال کوونکو پر ضد نه پخلاکېدونکې مبارزه وکړه .
دشوروي اخبارونو په پاڼه کې دده مضامينو او مقالو د شوروي مبارزو سرتيرو مورال لاپسې لوړ او د انسانيت د دښمنانو کرکجنه او وينې خوړونکې څهره يې نړيوالو ته وښودله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دشولوخوف د اثارو تنقيدي څيړنه

د میخایل شولوخوف په ایجاداتو کې د (ارام دون) ستر تاریخي رومان چې له څلور ټوکو څخه عبارت دي او د ( کرل شوې ځمکې ) رومان خاص ځای لري .

د ( رالم دون ) ستر اهمیت او بدیعي ارزښت په دې کې دی چې لیکوال د تاریخي غوڅو پیښو په ګرداب کې دبېلابېلو اشخاصو په ټنده لیک په رنځورولو پورې نه دې محدود شوی له هرڅه نه وړاندې دې دمبارزې لار او د قزاقانو داجتماعي بېلابېلو طبقو اخ و ډب په ګوته کوي له دې سببه له هر څه وړاندې د رومان قهرمانان خلک دي ، د رومان په لومړنیو مخونو کې په خلقي غورځنګ کې د کارګري ګوند لارښوونکي رول او دګوند او خلکو یو ډول ښودل شوي دي .

د ( ارام دون ) رومان یوه داسې حماسه ده چې دتاریخي پیښو د انځورولو پراختیا له کبله او دژورې هومانیستي فلسفې له مخې دشوروي ادبیاتو له شهکارونو څخه ګڼل کیږي .

د ( کرل شوې ځمکې ) د رومان ریالیستي قوت او د عمومیت درجه په دې اندازه عالي وه چې دې اثر نه یوازې ددغې تاریخي دورې په ترڅ کې ستر اهمیت ترلاسه کړه بلکې دشوروي پرمختګونو په راتلونکو کلونو کې دشوروي خلکو په ژوندانه باندې ستره اغیزه درلوده لیکوال په رومان کې د داسې یو انسان څیره هست کړې ده چې خپل ځان د خپه کوونکي او دخصوصیت مالکیت د نمانځلو دسپکوونکو شرایطو او محیط څخه خلاصوي .

دا اثر نه یوازې د ځانګړو انسانانو په باره کې نه دي بلکې د ټولو عادي زیار ایستونکو دهقانانو په باره کې دي چې په تدریج سره دخصوصي مالکیت د لمانځلو له روحي او سایکلوژي څخه خلاصیږي ، په رومان کې نه یوازې د قهرمانانو اجتماعي ژوند بېلګې دهغوی شخصي ژوند هم په یوې وتاري بدیعي مهارت سره انځور شوی دی .

د( کرل شوې ځمکې ) رومان دسوسیالیستي ریالیزم دادبیاتو د کنجینې له ډېرو ښو او غوره اثارو څخه دي او رښتیا چې هغه دشوروي سوسیالیسي کلیو په هکله کلاسیک اثر بولي، دشولوخوف د اثارو لوستل دخلکو د معنوي جهان په غني کولو او دهغوی په مترقي روزنه او داجتماعي عدالت د غوړیدلې ټولنې په جوړولو کې ستر رول لوبوي .

پای

چې غوټې پسې وهې په لاس به درشي
چاویل چې په دریاب کې ګوهر نه شته

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**